

# د اجراآتو انحراف: د *برحاله چارواکو* له خوا د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي شکایتونو ته رسیدګي کول

دسمبر ۲۰۲۳

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو
د مرستندویه پلاوي (یوناما)

## د دی راپور په اړه

دغه راپور د افغانستان خلکو لپاره د اندېښنې وړ بشري حقونو د اوسنیو موضوعاتو په اړه د موضوعي مطالعاتو د لړۍ یوه برخه ده، چې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) د بشري حقونو د څانګې له خوا د امنیت شورا د ۲۶۲۶ (۲۰۲۲) شمېره پرېکړه لیک په چوکاټ کې کوم چې د ۲۶۷۸ (۲۰۲۳) شمېره پریکړه لیک له مخې تمدید شوی، ترسره شوې. ۲۶۲۶ شمېره پرېکړه لیک یوناما ته دنده سپارلې چې "په ملي او ځایي کچو له ټولو شریکبانو، مدني ټولنې او نړیوالو نادولتي سازمانونو سره د ټولو افغانانو د بشري حقونو په ساتنې او ودې کې په ښکیل کیدو سره"، د ولسي وګړو د وضعیت، او جنسي او د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي د مخنیوي او هغه ته د ځواب ویلو لپاره پر قرباني د متمرکزې تګلارې په ګډون د تاوتریخوالي مخنیوي او له منځه وړل وڅاري، په اړه یې راپور ورکړي او د هغوي حمایت او مدافعه وکړي... او عدالت د برابرولو او هغه ته د مساوي لاس رسي لپاره مدافعه وکړي..."

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو
د مرستندویه پلاوي (یوناما)

# لومړی. پېژندنه

یوناما د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي[١] پېښو ته د افغانستان پرلپسې حکومتونو د رسیدګۍ هڅې څاري، په ځانګړي ډول د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون[٢] د تطبیق له لارې کوم چې په ۲۰۰۹ کال کې نافذ شوی. د زیانمنونکو دودیزو کړنو له لارې په ګډون،[٣] د افغان ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي د پېښو تکرار او عمومیت مخکې تر دې چې طالبان د ۲۰۲۱ کال د اګست پر ۱۵ نېټه پر افغانستان ولکه ټینګه کړي، لوړ و.[٤] له دغه وخت راهیسې د هغو اقتصادي، مالي او بشري ناورنیونو اغیز په پام کې نیولو سره چې په هیواد کې میشت خلک[٥] اغېزمنوي په میلیونونو افغانان بې بشري مرستو ته اړ کړي،[٦] ویل کېږي چې د تاوتریخوالي د پېښو تکرار او عمومیت به د پخوا په پرتله لا زیات وي. د ښځو او نجونو په وړاندې د طالبانو د *برحاله چارواکو*[٧] د زده کړو (چې له اووم ټولګي په کښته زده کړو او دغه راز د راپورونو له مخې له لومړنیو ښوونځیو وروسته په مدرسو پورې محدود شوی)، د تګ راتګ د آزادۍ، د نظریو او بیان د آزادۍ (د لباس د خوښې په ګډون)، استخدام (چې په روغتیايي سکتور، د هوايي ډګرونو په امنیت، د صنعت سکتور په ځینو برخو کې ، او په *برحاله* پولیسو کې په ځینو حاشیوي چارو پورې محدود شوی) او په عام ژوند کې د ګډون په اړه تبعیضي پالیسي ګانې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي په وړاندې د افغان ښځو او نجونو زیانمنتوب لا پسې تشدیدوي، په دواړو عامه او خصوصي برخو کې، چې په وروستي هغه کې یې کورنی او د ژوند د شریک تاوتریخوالی شامل دی څرنګه چې دغه مورد تر ډېره د هغوي په کورونو پورې تړلی دی.

---

[١] "د یوې ښځې په ضد له دې امله چې ښځه ده د تاوتریخوالي ترسره کول یا دا چې ښځې په نا متناسب ډول اغېزمنوي". د جنسیت پر بنسټ د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي په اړه د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د ټولو شکلونو د له منځه وړلو کنوانسیون ۳۵ شمېره عمومي تبصره، چې د ۱۹ شمېره عمومي تبصره په اړه تازه معلومات وړاندې کوي، وګورئ. همدارنګه د دغه راپور دویمه برخه، الف. نړیوال چوکاټ وګورئ.

[٢] په ۲۰۰۹ کال کې، افغانستان حکومت د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون نافذ کړ. نوموړی قانون د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي ۲۲ اعمال جرم ګڼي. په افغانستان کې د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو لپاره د حقوقي چوکاټ د مفصلې کتنې لپاره، په افغانستان کې د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي په اړه د یوناما/د بشري حقونو لپاره د عالي کمیشنر د دفتر راپورونه وګورئ: لا اوس هم په مخ کې پرته اوږده لار: په افغانستان کې د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون تطبیق، ۲۰۱۲؛ د یوناما/د بشري حقونو لپاره د عالي کمیشنر دفتر، د تلو لاره: په افغانستان کې د ښځې پر علیه د خشونت د منع قانون د تطبیق په هکله اپډیټ راپور، ۲۰۱۳؛ د یوناما/د بشري حقونو لپاره د عالي کمیشنر دفتر، عدالت د افغان میرمنو له نظره: د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي قضیې چې د منځګړیتوب او د محکمو د پرېکړو له لارې حل شوي، ۲۰۱۵؛ د یوناما/د بشري حقونو لپاره د عالي کمیشنر دفتر، بې عدالتي او معافیت: د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي جنايي جرمونو په اړه منځګړیتوب، مۍ ۲۰۱۸. پر راتلونکې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ دي: https://unama.unmissions.org/women%27s-rights-reports.

[٣] د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو په اړه د ملګرو ملتونو کمیټه "زیانمنوونکې دودیزې کړنې" داسې تشریح کوي: "دودیزې انګېرنې دي چې له مخې یې میرمنې د نارینه وو تابع ګڼل کیږي یا د هغو په خیر د ښځو ګڼل چې کلیشه یې نقشونه لري" او "پراخې کړنې چې تاوتریخوالی یا اکراه په کې شامل وي، لکه د کورنۍ تاوتریخوالی او ناوړه ګټه اخیستنه، جبري ودونه.... ابدي کوي. دا ډول تعصبونه او اعمال کیدای شي د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالی د ښځو د ساتنې یا کنټرول د یوه شکل په څېر توجیه کړي. د ښځو پر جسمي او رواني سلامتیا د دغه ډول تاوتریخوالی اغیز له بشري حقونو او بنسټیزو آزادي ګانو څخه د ښځو د مساوي برخمن کیدو، د هغوي له اعمال او پر هغوي له پوهیدو حرمان دی." ۱۹، ۱۹۹.۲ شمېره عمومي تبصره وګورئ.

[٤] د سروې شویو ښځو نږدې نیمه یې هغو یې خبر ورکړی چې په خپل ژوند کې یې د کورني، فیزیکي، جنسی یا رواني تاوتریخوالي لږ تر لږه یو شکل تجربه کړی یا اجباري نکاح سره مخ شوي. وګورئ: د مرکزي احصائیو سازمان، د عامې روغتیا وزارت، او ICF (۲۰۱۷) د افغانستان دیموګرافیک او روغتیا سروی ۲۰۱۵.

[٥] د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر، *په افغانستان کې د بشري حقونو وضعیت*، د بشري حقونو لپاره د عالي کمیشنر دفتر راپور، A/HRC/49/24، ۴ مارچ ۲۰۲۲.

[٦] ملګري ملتونه، *د افغانستان وضعیت او پر نړیوالې سولې او امنیت یې اغیزې، د عمومي منشي راپور، A/76/862-S/2022/485، ۱۵ جون ۲۰۲۲.* همدارنګه وګورئ، *د بشري چارو همغږې کوونکي له نړۍ غوښتنه کوې چې په دغو سختو شیبو کې افغانان یوازې پرې نږدي*، ۶ اپریل ۲۰۲۳. پر راتلونکې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ دی: https://news.un.org/en/story/2023/04/1135422 ، په وروستي ځل د ۲۰۲۳ کال د جون پر ۱۰ نېټه کتل شوی.

[٧] په دغه سند کې، د طالبانو برحاله چارواکو ته په ټولو حوالو کې د "*برحاله چارواکو*" یا "*برحاله مسؤولینو*" په څېر یادونه شوې، مګر دا چې بل ډول یاد شوي وي.

پر هیواد د طالبانو تر ولکې مخکې، د ښځو چارو پخوانۍ وزارت او په ټول هیواد کې یې ریاستونه، د لوي څارنوالۍ[8] د ښځو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي اختصاصي څارنوالۍ ګانې او د افغانستان د ملي پولیسو د جنایي تحقیقاتو په ریاستونو کې واقع د کورنیو شخړو د حل واحدونه – چې په ګډه یې ډول د "ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو ادارو" په نامه یادېدې – ځینې هغه کلیدي دولتي ادارې وې چې د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي د قربانیانو/زیانمنو شویو میرمنو[9] لپاره د عدالت یا عدالت ته د لاس رسي ډاډمنولو په پار ګمارل شوې وې. دغه ادارې د وخت په تېریدو سره غښتلې شوې وې او د همغږۍ د هڅو طرح کول یې پیل کړي وو، لکه د ښځو د امن خونو[10] په څېر په محافظتي او حمایتي مرکزونو کې د تاوتریخوالي د زیانمنو شویو [مجني علیها] ځای پر ځای کول. څرنګه چې طالبانو د *برحاله چارواکو* په څېر په افغانستان کې ځانونه تثبیت کړل، دغه اداري جوړښتونه یا خو په تدریجي ډول لغوه شول یا د طالبانو د عمومي حقوقي او عدلي سیستم سره سم د نورو کارونو لپاره چې غالبا پر شریعت بناء دی، تغیر د جهت وکړ.[11]

د ۲۰۲۱ کال د اګست د ۱۵ او د ۲۰۲۲ کال د جولای د ۱۵ نېټې ترمنځ، یوناما ملاحظه کړې چې د *برحاله چارواکو* له خوا د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي شکایتونو/قضیو[12] ته رسیدګي ناروښانه او نا سازګاره وه. پر دې د پوهېدو په پار چې د طالبانو *برحاله* عدلي سیستم څرنګه دغو شکایتونو ته رسیدګي کړي او حل کړي، د تطبیق وړ قوانینو او هغو ادارو په ګډون چې د دغه ډول موضوعاتو د ترلاسه کولو، اجراآتو او فیصله کولو لپاره ګمارل شوې وې، یوناما د دغې موضوع په اړه له *برحاله* مسؤولینو او د مدني ټولنې له فعالینو سره لیدلي او په اړه یې خبرې کړي. یوناما د اعمالو د هغو ډولونو په تړاو چې د طالبانو له

[8] د برحاله لوي څارنوال له خوا تر یوه مکتوب وروسته چې په ټول هیواد کې د عدلي تعقیب واحدونو اړوند څارنوالیو واحدونو ته لارښوونه کوي چې له څارندوي ادارو یا ورته دفترونو له خوا د تحقیقاتو لپاره راستول شوې دوسیې و نه مني، د لوي څارنوالۍ دفتر او په ټول افغانستان کې یې اړوند د څارنوالیو واحدونو د ۲۰۲۲ کال د اګست له ۲۰ راهیسې خپلې څارندوي چارې درولې. د ۲۰۲۳ کال د مارچ د ۲۱ نېټې د فرمان له لارې، د طالبانو د مشر ملا هیبت الله اخندزاده له خوا *برحاله* د لوي څارنوالۍ دفتر د کاري حوزې په بدلولو سره د *برحاله* فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت پر لوی ریاست ونوماوه. د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوي ریاست د ۲۰۲۳ کال د مې د ۷ نېټې فرمان په خپلو دندو کې له بدلون سره. د ۲۰۲۳ کال په جون کې د یوناما د بشري حقونو څانګې ته د نوموړي ریاست له خوا د ورکړل شویو معلوماتو سره سم، *برحاله* د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوي ریاست اوس د "فرمانونو پر تطبیق" په څارنه تمرکز کوي او د *برحاله* چارواکو له خوا د سرغړونو/جرمونو د څېړلو صلاحیت لري او اوس د عامه نظم په ورځنیو چارو پورې اړوند د افرادو د جرمونو له تحقیقاتو سره سر و کار نه لري.

[9] د دې په پار چې یو داسې شخص معلوم کړې چې د "قرباني" یا "زیانمن شوي" په څېر د جنسیت پر بنسټ له تاوتریخوالي سره مخ شوی وي، په لومړي ګام کې د اړوند فرد په ترجیح/ځان معلوملو پورې تړلې، چې باید درناوی یې وشي. په کوم سیاق کې چې دغه اصطلاح کارول شوې ښایي توپیر ولري. د مثال په ډول، د "قرباني" اصطلاح په منظم ډول هغه مهال کارول شوې کله چې دا په ډاګه کوي چې یو شخص له نړیوال قانون څخه د سرغړونو یا جرم سره مخ شوی. اصطلاح له دې پلوه پراخه ده چې د جنسي تاوتریخوالي قربانیان هغه افراد ګڼل کېږي څوک چې په مستقیم ډول له تاوتریخوالي سره مخ شوي، همدارنګه نور هغه کسان چې په غیر مستقیم ډول متاثر شوي (د مثال په ډول، د جنسي تیري په پایله کې زیږدلي ماشومان). د "زیانمن شوي" اصطلاح په ډېر معمول ډول له جنسي تاوتریخوالي سره د مخ شوي یوه شخص د رغیدنې پروسې په تړاو کارول شوې، څرنګه چې د ځواک/وړتیا او انعطاف منني معنا افاده کوي. د ملګرو ملتونو په کچه د یوې یا بلې اصطلاح د کارونې په اړه توافق نه دی موجود. دواړه اصطلاح ګانې کیدای شي په هم مهالي ډول او په متبادل شکل وکارول شي. " زیانمن شوي" په یوه فرد پورې اړه لري، خو "قرباني" د جنسیت پر بنسټ د تبعیض پر سیستم پر هغه شناعت دلالت کوي چې ښځې او نجونې ورسره مخ دي. د دغه راپور په موخه د "زیانمن شوي" اصطلاح کارول شوې.

[10] د یوناما/د بشري حقونو لپاره د عالي کمیشنر دفتر، بې عدالتي او معافیت: د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي جنایي جرمونو په اړه منځګړیتوب، مې ۲۰۱۸. پر راتلونکې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ دي: https://unama.unmissions.org/women%27s-rights-reports.

[11] د مثال په ډول، ۸ لمنلیک وګورئ.

[12] په جزا قانون کې په عام ډول، یو شخص د جرمي شکایت له لارې متهم کېږي. نو په دې ترتیب جرمي شکایت هغه څه دي چې معمولا د یوه شکمن په وړاندې د رسمي جرمي قضیې پیل په نښه کوي. د دغه راپور په هدف، د "شکایت" اصطلاح په عام ډول کارول شوې په داسې حال کې چې د "قضیې" اصطلاح د *برحاله* محکمو په تړاو کارول شوې.

خوا پر هیواد تر ولکې مخکې یې د ښځو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي جرمونه تشکیلول،[۱۳] د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون (۲۰۰۹) د حوالې په څېر کارولی.[۱٤]

د معلوماتو پر راغونډولو د مشخصو محدودیتونو له امله، دغه راپور د هر اړخیزې کتنې د برابرولو ادعا نه کوي، بلکې د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ راهیسې د ۲۰۲۳ کال تر مارچ پورې په ټول هیواد کې د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي شکایتونو ته د *برحاله چارواکو* له خوا د حقوقي او قضايي ځواب یو انځور وړاندې کوي.

[۱۳] د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ نېټې راهیسې د طالبانو له خوا پر هیواد تر ولکې وروسته د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي د شکایتونو په اړه د تطبیق وړ حقوقي او پالیسي چوکاټونو په هکله د *برحاله* چارواکو له خوا د تایید یا روښانتیا د نشتون په پام کې نیولو سره د حوالې په څېر د ۲۰۰۹ کال د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون کارونه اړینه وه.
[۱٤] د افغانستان اسلامي جمهوریت، *د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون، ۴ او* ۵ مادې.

# دویم. حقوقي چوکاټ

## الف. نړیوال حقوقي چوکاټ

د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو اعلامیه (۱۹۹۳) د "ښځو په وړاندې تاوتریخوالی" داسی تعریفوی چې"د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالی هر هغه عمل یا ښایي چې ښځو ته د جسمي، جنسي یا رواني زیان لامل، یا ښځو ته د زیان احتمال ولري، د دغو اعمال د ګواښونو، د آزادي د اجباري یا خپلسري حرمان په ګډون که په عامه یا شخصي ژوند کې رامنځ ته کېږي."[۱۵]

**"غړي دولتونه د قانون په وړاندې ښځو ته له نارینه وو سره پر مساواتو قایلیږي."**

**د ملګرو ملتونو د ښځو په وړاندې د تبعیض د ټولو شکلونو د له منځه وړلو کنوانسیون، ۱ (۱) ماده، ۳ سپتمبر ۱۹۸۱**

د ملګرو ملتونو د ښځو په وړاندې د تبعیض د ټولو شکلونو د له منځه وړلو د کمېټې د ښځو په ضد د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالی په اړه ۳۵ شمېره عمومي تبصره، د ۱۹ (۲۰۱۷) شمېرې عمومي تبصره په اړه نور معلومات وړاندې کوي، د ښځو په وړاندې د جنسیت پر بنست تاوتریخوالی داسی تعریفوي "تاوتریخوالی کوم چې د ښځو پر وړاندې له دې امله چې ښځه ده ترسره شوی وي یا دا چې ښځه په نامتناسب ډول اغیزمنوي". نوموړې تبصره د دې یادونه کوي چې ""د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي" مفهوم څرنګه چې په ... نړیوالو اسنادو کې تعریف شوی، پر دې واقعیت ټینګار کوي چې دغه تاوتریخوالی د جنسیت پر بنسټ ولاړ وي." په دې توګه د "ښځو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي" اصطلاح یو ډېره دقیقه اصطلاح ده  [ځکه چې دا] د تاوتریخوالي لاملونه او پر هغه مرتب شوې عواقب توضیح کوي. نوموړې کمېټې دغه راز په ډاګه کړې چې "دغه اصطلاح د تاوتریخوالي په اړه دا درک تقویه کوي چې هغه د فردي ستونزې پر ځای یوه ټولنیزه ستونزه ده، چې تر مشخصو پېښو، د انفرادي مرتکبینو او قربانیانو ها خوا د هر اړخیزو ځوابونو غوښتنه کوي."[۱٦] په ترتیب سره، په دغه سند کې د "ښځو او نجونو په ضد د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالی" اصطلاح کارول شوې.

افغانستان د ښځو په وړاندې د تبعیض د ټولو شکلونو د له منځه وړلو کنوانسیون غړی دولت ګڼل کېږي او اوس هم د نوموړي کنوانسیون پر رعایتولو مکلف دی.[۱۷] دغه کنوانسیون غړي دولتونه د نه تبعیض او له قانوني برابری څخه د برخمن کیدو په اړه د ښځو حقونو پر درناوي، حمایت، او تحقق مکلفوي. د کنوانسیون ۲ (ج)، ۳، ۵ (الف) او ۱۵مادې عدالت ته د لاس رسي په اړه دي. ۵ (الف) ماده د هغو ټولنیزو نورمونو د لرې کولو غوښتنه کوي کوم چې ښځې له خپلو حقونو څخه له برخمن کېدو منع کوي. له ۱۵ تر ۱۷ مادې د قانون په وړاندې[۱۸] د ښځو مساوات د یقیني کولو مکلفیتونه وضع کوي او د زده کړو، ټولنیز او اقتصادي

---

[۱۵] د ملګرو ملتونو د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو اعلامیه، ۲۰A/RES/48/104 ډسمبر ۱۹۹۳، ۱ ماده.
[۱٦] د ملګرو ملتونو د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو کمېټه، د ښځو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي په اړه ۳۵ شمېره عمومي تبصره، چې ۱۹ (۲۰۱۷) عمومي تبصرې په اړه تازه معلومات وړاندې کوي، CEDAW/C/GC/35، ۲۶ جولای ۲۰۱۷، ۹ پاراګراف.
[۱۷] د افغانستان اسلامي جمهوریت د ښځو په وړاندې د تبعیض د ټولو شکلونو د له منځه وړلو کنوانسیون د ۲۰۰۳ کال په مارچ کې تایید کړی.
[۱۸] همدارنګه وګورئ، د مدني او سیاسي حقونو په اړه نړیوال میثاق، د عمومي اسامبلې ۲۲۰۰ (XXI) پرېکړه لیک، ۱۶ ډسمبر ۱۹۶۶، ۱۴ ماده.

ژوند، او په کورني ژوند کې د ښځو د حقونو د مساواتو په اړه د ښځو په وړاندې د تبعیض ټول شکلونه منع کوي. سربېره پر دې، کنوانسیون په دې اړه صراحت لري چې د یوه ماشوم واده بې اعتباره او باطل ګڼل کېږي.

هغه نړیوال تړونونه چې افغانستان یې غړی دولت[19] ګڼل کېږي او اوس هم د هغوی پر رعایتولو مکلف دی، د ښځو او نجونو په وړاندې د تبعیض ټول شکلونه منع کوي او دولت د داسې اقداماتو ترسره کولو ته اړ کوي څو له خپلو مدني، سیاسي، اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو څخه د برخمن کېدو په پار د ښځو او نارینه وو مساوي حق، او د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي او نورو زیانمنونکو کړنو له منځه وړل ډاډمن کړي.

## ب. د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو په اړه ملي حقوقي چوکاټونه

د افغانستان د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون په ډاګه کوي چې د افغانستان اتباع – ښځې او نارینه – د قانون په وړاندې مساوي حقوق او وجایب لري، او دا چې د افغانستان د اتباعو ترمنځ هر راز تبعیض او امتیاز منع دی.[20] د افغانستان د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون ۷ (۱) ماده د نړیوالو معاهداتي مکلفیتونو د رعایتولو مکلفیت تائیدوي: "دولت د ملګرو ملتونو د منشور، د بین الدول معاهدو، د نړیوالو میثاقونو چې افغانستان له هغو سره تړاو لري او د بشري حقونو د نړیوالې اعلامیې رعایت کوي."[21]

په ۲۰۰۹ کال کې، د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون د ولسمشر د فرمان پر اساس نافذ شو او یو له هغو کلیدي قوانینو ګڼل کېده چې د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي موضوعات یې تنظیمول.

نوموړي قانون ۲۲ اعمال کوم چې د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالی جوړوي، جرم ګڼي.[22] د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون د ۳۹ (۱) او (۲) مادې له مخې، مجنې علیها کولی شي، د عدلي تعقیب په هر پړاو کې له خپل شکایت څخه تېره شي، د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي له پنځو کړنو پرته د کوم په اړه چې دولت باید اقدام وکړي، پرته له دې چې دا په پام کې

---

[19] د افغانستان اسلامي جمهوریت د راتلونکو نړیوالو تړونونو غړی دولت دی: د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق؛ د اقتصادي، ټولنیز او کلتوري حقونو نړیوال کنوانسیون؛ د قومي تبعیض د ټولو شکلونو د له منځه وړلو کنوانسیون؛ د ښځو په وړاندې د تبعیض د ټولو شکلونو د له منځه وړلو کنوانسیون؛ د شکنجې او نورو ظالمانه، نا انساني یا سپکاوي ډک چلند یا سزا د منع کنوانسیون او د شکنجې د منع د کنوانسیون اختیاري پروتوکول؛ د ماشوم د حقونو کنوانسیون او د هغه دوه اختیاري پروتوکولونه (په وسله واله جګړه کې د ماشومانو د ښکیلتیا په اړه د ماشوم د حقونو د کنوانسیون اختیاري پروتوکول او د ماشومانو د پلور، د ماشوم فحشاګري او ماشوم پورنوګرافي په اړه د ماشوم د حقونو د کنوانسیون اختیاري پروتوکول)؛ او د معلولیت لرونکو کسانو د حقونو په اړه کنوانسیون.

[20] د افغانستان اسلامي جمهوریت، *د افغانستان د اسلامي جمهوریت اساسي قانون*، ۲۰۰۴، ۲۲ ماده.

[21] په افغانستان کې د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو لپاره د حقوقي چوکاټ د مفصلې کتنې لپاره، په افغانستان کې د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي په اړه د یوناما/د بشري حقونو لپاره د عالي کمیشنر د دفتر راپورونه وګورئ: *لا اوس هم په مخ کې پرته اوږده لار: په افغانستان کې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو قانون تطبیق*، ۲۰۱۲؛ د یوناما/د بشري حقونو لپاره د عالي کمیشنر دفتر، د تلو لاره: *په افغانستان کې د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون د تطبیق په هکله اپډیټ راپورا*؛ ۲۰۱۳؛ د یوناما/د بشري حقونو لپاره د عالي کمیشنر دفتر، *عدالت د افغان میرمنو له نظره: د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي قضیې چې د منځګړیتوب او د محکمو د پرېکړو له لارې حل شوي*، ۲۰۱۵؛ د یوناما/د بشري حقونو لپاره د عالي کمیشنر دفتر، *بې عدالتي او معافیت: د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي جنایي جرمونو په اړه منځګړیتوب*، می ۲۰۱۸ . پر راتلونکې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ دي: https://unama.unmissions.org/women%27s-rights-reports.

[22] د افغانستان اسلامي جمهوریت، *د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون*، ۲۰۰۹، ۵ ماده: " د ښځې پر علیه د لاندې ۲۲ اعمالو ارتکاب تاوتریخوالي پېژندل کېږي: جنسي تیری؛ فحشاء ته مجبورول؛ د مجنې علیها هویت ضبطول او ثبتول او د هغه خپرول په داسې توګه چې د هغې شخصیت ته زیان ورسوي؛ اور ورته کول یا د کیمیاوي، زهري او یا نورو زیان رسوونکو موادو استعمالول؛ ځان سوځولو یا ځان وژنې او یا د زهري موادو یا نورو زیان رسوونکو موادو استعمالولو ته مجبورول؛ مجروحول یا معلولول؛ وهل او ټکول؛ د واده په منظور یا بهانه پېرل او پلورل؛ په بدو کې ورکول؛ اجباري نکاح؛ د واده له حق او یا د زوج د غوره کولو له حق څخه منع؛ د قانوني سن له بشپړېدو د مخه نکاح؛ ښکنځلې، تحقیر او تخویف؛ ځورول؛ اجباري یوازې پرېښودل؛ د مخدره موادو اعتیاد ته د ښځې مجبورول؛ په ارث کې له تصرف څخه منع کول؛ په شخصي مالونو کې له تصرف څخه منع کول؛ د ښوونې، تحصیل، کار او روغتیایي خدمتونو ته د لاس رسي له حق څخه منع کول؛ اجباري کار؛ مدني قانون په ۸۶ ماده کې د درج شوي حکم په پام کې نیولو پرته، له یوې څخه له زیاتو ښځو سره واده کول؛ د قرابت نفې کول."

ونيسي چې آيا شکايت درج شوی او بيا وروسته بېرته اخيستل شوی يا نه. دا جرمونه عبارت دي له جنسي تيري، اجباري فحشا، د قرباني د هويت افشا کول، د ښځې/نجلۍ سوځول يا د کيمياوي، زهري او يا نورو زيان رسوونکو موادو استعمالول او اجباري ځان سوځول يا ځان وژل – په عام ډول د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسيت پر بنسټ د تاوتريخوالي پنځه ياد شوي جدي جرمونه دي. په نوموړي قانون کې نور ټول تصريح شوي جرمونه بايد د مجنې عليها يا د کورنۍ د غړي له خوا تر شکايت کولو وروسته وڅېړل شي او عدلي تعقيب ته راجع شي.

د يوه تخصصي قانون په توګه،[۲۳] د ښځې پر عليه د تاوتريخوالي د منع قانون د هغو قضيو لپاره چې تيری، جرح او/يا معلولول په کې شامل وي د ۱۹۷۶ کال د جزا قانون کوم چې په ۲۰۱۷ کال کې تعديل شوی، حواله ورکوي. د ۲۰۱۷ کال د تعديل شوي قانون نورې برخې د ښځو او نجونو په وړاندې د ترسره شوي د جنسيت پر بنسټ تاوتريخوالي نور هغه اعمال هم جرم ګڼي چې د ښځې پر عليه د تاوتريخوالي د منع قانون تر پوښښ لاندې نه دي راغلي، لکه وژنه او تښتونه. خو له دې سره سره، دا د هغو مدني حل لارو په اړه تصريح نه لري کوم چې د قربانيانو او د هغوی د ماشومانو ساتنه تسهيلوي، لکه د ساتنې يا مخه نيوونکي امرونه.

د ښځې پر عليه د تاوتريخوالي د منع قانون صلاحيت لرونکي کسان د زيانمنو شويو [مجنې عليها] په ګټه د حفاظتي او حمايوي تدبيرونو پر ترسره کولو مکلفوي، لکه د هغوی د فعاليتونو همغږي کول چې د زيانمنو شويو ساتنه ډاډمنه کړي، د جنسيت پر بنسټ د تاوتريخوالي د قربانيانو لپاره د خونديو ځايونو برابرول او د حقوقي او مذهبي حقونو په اړه د ښځو او نارينه وو د پوهاوي لوړول. د تېر حکومت پرمهال، دغه مکلفيتونه ته اتو حکومتي وزارتونو،[۲۴] د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي د له منځه وړلو ملي عالي کميسيون (د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي د له منځه وړلو عالي کميسيون) او د افغانستان په ټولو ۳۴ ولايتونو کې واليانو اوړه ورکړې وه، وروستي هغه ته يې د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي د له منځه وړلو عالي کميسيون له لوري لارښوونه شوې وه چې د ولايت په کچه د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي د له منځه وړلو کميسيونونه (د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي د له منځه وړلو کميسيونونه) جوړ کړي، کوم کار چې هغوی ترسره کړ.

د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسيت پر بنسټ د تاوتريخوالي د شکايتونو په حل کې له رسمي عدلي سيستم څخه بهر د شخړو د حل د دوديزو ميکانيزمونو له لارې د منځګړيتوب کارونه لا وار د مخه مخکې تر دې چې *برحاله* چارواکي پر افغانستان کنټرول ترلاسه کړي، يوه ننګونه وه.[۲۵] د تېر حکومت له خوا د يوه داسې قانون جوړولو لپاره رواني هڅې چې د مدني کوچنيو موضوعاتو په ګډون د شخړو د منځګړيتوب چارې تنظيم کړي، د ۲۰۲۱ کال د اګست د ۱۵ پېښې په رامنځ ته کېدو سره له کومې پايلې پرته تمامې شوې. د ښځې پر عليه د تاوتريخوالي د منع قانون ۳۹ (۱) او (۲) ماده په عمل کې داسې تفسير شوې چې دا د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسيت پر بنسټ د تاوتريخوالي د شکايتونو لپاره د منځګړيتوب فرصت برابروي البته که چېرې يې مجنې عليها يا يې د هغې کورنۍ وغواړي. د تېر حکومت پرمهال، د شخړو د حل په دوديزو ميکانيزمونو کې د ټولنې مشران، جرګې (په غير رسمي ډول د مشرانو غونډه چې د کورنيو يا افرادو په حق کې د پرېکړو صلاحيت لري،

[۲۳] د "تخصصي قانون" اصطلاح نه يوازې د دې لپاره کارول شوې چې د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسيت پر بنسټ د تاوتريخوالي د له منځه وړلو موضوع ته د قانون ځانګړنتوب په ډاګه کړي، بلکې همدارنګه د قانون په تطبيق کې د مهارت [يا د مهارت لپاره اړتيا] په ډاګه کړي.

[۲۴] په دغه وزارتونو کې د ښځو د چارو پخوانی وزارت، د حج او اوقافو وزارت، د پوهنې وزارت، د لوړو زده کړو وزارت، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت، د عدليې وزارت، د کورنيو چارو وزارت او د عامې روغتيا وزارت شامل وو.

[۲۵] د مثال په ډول وګورئ: د يوناما/د بشري حقونو لپاره د عالي کميشنر دفتر، *د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتريخوالي جرمونو ته د عدالت په لټه کې*، ډسمبر ۲۰۲۰. ۱۱ مخ. پر راتلونکي انټرنيټ پاڼه د لاس رسي وړ دي: https://www.ohchr.org/sites/default/files/Documents/Countries/AF/UNAMA_OHCHR_Violence_Women.pdf. په وروستي ځل د ۲۰۲۳ کال د جون پر ۱۵ نېټه کتل شوی.

زیاتره د شخړو د حل یا د ټولنې د نورو موضوعاتو په موخه)، شوراګانې (ځایي شوراګانې) او عالمان (مسلمان دیني علماء) شامل وو.

د ۲۰۲۱ کال د اګست پر ۱۵ نېټه د طالبانو له خوا د افغانستان تر نیونې وروسته، د عدلیې *برحاله* وزیر عبد الحکیم شرعي، د ۲۰۲۱ کال په سپتمبر کې د هیواد د اداره کولو لپاره د طالبانو د هغه پلان په اړه خبر ورکړ چې د افغانستان د ۱۹۶۴ کال له اساسي قانون څخه به په مؤقت ډول ځینې هغه مادې چې "له شریعت سره په ټکر کې نه وي" او هغه "نړیوال قوانین او اسناد کوم چې د شریعت له اصولو سره په ټکر کې نه دي او همدارنګه اسلامي امارت ته به درناوی کېږي."[۲۶] تطبیقوي.

د ۲۰۲۱ کال په ډسمبر کې د طالبانو مشر هیبت الله آخندزاده یو فرمان صادر کړ چې واده ته د ښځو مجبورول او په بدو کې د هغوي ورکول منع کوي، او ښځو ته د خپلې خوښې واده حق ورکوي. له دې سره سره نوموړي فرمان د واده حد اقل عمر نه ټاکي. دغه فرمان همدارنګه ښځو ته د هغوي د مېړه، پلار، ورور، ماشوم یا خپلوان په ملکیت کې د میراث حق ورکړی. دغه فرمان که څه هم د نارینه وو لپاره متعدد وادونه منې، د متعددو وادونو له لرونکو نارینه وو غوښتنه کوي چې "ټولو ښځو ته له شریعت سره سم حقونه ورکړي، او د هغوي ترمنځ عدالت وساتي." دغه فرمان همدارنګه د ښځو او نجونو د پراخو حقونو لکه د هغوي د زده کړو، کار، د تګ راتګ د آزادۍ یا په عامه ژوند کې د ګډون یادونه نه کوي. د *برحاله* ادارو ترمنځ، *برحاله* د حج او اوقافو وزارت، د اطلاعاتو او کلتور وزارت او والیانو او ولسوالانو ته په مشخص ډول د دغه فرمان د تطبیق دنده سپارل شوې، همدارنګه *برحاله* سترې محکمې ته دنده سپارل شوې چې "ټولو محکمو ته هدایت صادر کړي څو د ښځو خصوصا د کونډو د حقونو او پر هغوي د ظلمونو اړوند عریضې په اصولي او مناسب ډول واخلي، [څرنګه چې] په شریعت کې تضمین شوې."[۲۷]

> **"موږ به دې اړه بحث نه کوو چې موږ باید په افغانستان کې کوم ډول سیاسي نظام تطبیق کړو،**
> **ځکه چې دا روښانه دی. دا شریعت دی او همدا به وي."**
> **وحید الله هاشمي، د طالبانو یو مخکښ قوماندان چې د ۲۰۲۱ کال د اګست پر ۱۸ نېټه یې له رسنیو سره خبرې کولې**

*برحاله چارواکو* په مختلفو مناسباتو کې په ډاګه کړې، چې شریعت به افغانستان کې د تطبیق وړ حقوقي چوکاټ دی.[۲۸] د ۲۰۲۲ کال په منځ کې، له شریعت سره د تطابق په موخه *برحاله چارواکو* د طالبانو له راتګ

---

[۲۶] د امریکا غږ راډیو، *طالبان وايي چې د اوس لپاره د افغانستان د مخ ته وړلو لپاره د سلطنتي اساسي قانون ځینې برخې کاروي*، ۲۸ سپتمبر ۲۰۲۱، په لاندې انټرنېټ پاڼه د لاس رسي وړ: https://www.voanews.com/a/taliban-say-they-will-use-parts-of-monarchy-constitution-to-run-afghanistan-for-now/6248880.html، په وروستي ځل د ۲۰۲۳ کال د جون پر ۲۵ نېټه لیدل شوی.

[۲۷] د ښځو د حقونو په اړه د طالبانو د مشر له خوا خپور شوی ځانګړی فرمان، ۳۹۵ شمېره فرمان، ۳ ډسمبر ۲۰۲۱، پر راتلونکې ټویټر پاڼه د لاس رسي وړ دی: https://twitter.com/Zabehulah_M33/status/1466662484375326720، په وروستي ځل د ۲۰۲۳ د جون پر ۱۱ نېټه لیدل شوی.

[۲۸] رویټرز، ځانګړې: *شورا ښايي پر افغانستان حاکمیت وکړي، طالبان به له سرتیرو، پیلوټانو سره اړیکه ونیسي*، ۱۹ اګست ۲۰۲۱، پر لاندې انټرنېټ پاڼه د لاس رسي وړ دی: https://www.reuters.com/world/asia-pacific/exclusive-council-may-rule-afghanistan-taliban-reach-out-soldiers-pilots-senior-2021-08-18/; ځانګړې، *افغان ښځې باید د نارینه وو ترڅنګ کار و نه کړي، د طالبانو لوړ پوړي چارواکي وايي*: ۱۳ سپتمبر ۲۰۲۱، پر لاندې انټرنېټ پاڼه د لاس رسي وړ دی: https://www.reuters.com/world/asia-pacific/exclusive-afghan-women-should-not-work-alongside-men-senior-taliban-figure-says-2021-09-13/؛ اسوشیټېډ پریس، د طالبانو

مخکې د ټولو تصویب شویو قوانینو بیا کتنه پیل کړه، په داسې حال کې چې دغه چاره لا اوس هم دوام لري، مبهم حقوقي وضعیت رامنځ ته کوي.[29] په داسې حال کې چې د راپورونو له مخې[30] د ۲۰۱۷ کال د جزا د قانون ځینې برخې له شریعت سره په ټکر کې ګڼل شوي، خو لا تر اوسه معلومه نه ده چې کومې برخې.

---

چارواکی: *سختې سزاګانې او اعدامونه بېرته پیلیږي*، پر لاندې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ دی: https://apnews.com/article/religion-afghanistan-kabul-taliban-22f5107f1dbd19c8605b5b5435a9de54; ؛ طلوع نیوز، چارواکي: *افغانستان اساسي قانون ته اړتیا نه لري*، ۴ سپتمبر ۲۰۲۲، پر لاندې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ دی: https://tolonews.com/afghanistan-179697; اسوشیټیډ پریس: *افغان طالبان وايي چې دغه ډله سختو اسلامي قوانینو ته پابنده ده*، ۱۷ نومبر ۲۰۲۲، پر لاندې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ دی: https://apnews.com/article/afghanistan-business-taliban-921f029801814736709d0445336a53cf. په دغه لمن لیک کې ټولې انټرنیټ پاڼې د ۲۰۲۳ کال د جون پر ۱۵ نېټه لیدل شوې.

[29] برحاله د عدلیې وزارت، د عدلیې وزیر د *قوانینو د بیاکتنې بهیر په چټکتیا باندې ټینګار وکړ*، ۱۰ اپریل ۲۰۲۲، پر لاندې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ ده: https://moj.gov.af/en/minister-justice-accentuated-upon-expedition-law-revision-process، په وروستي ځل د ۲۰۲۳ کال د جون پر ۱۵ نېټه لیدل شوې.

[30] له اتو *برحاله* چارواکو سره مرکې.

# دریېم. میتودولوژي

د خپلې رواني څارنې د بشپړولو په پار چې د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ نېټې راهیسې د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي پېښو ته څرنګه رسیدګي شوې، یوناما په ټول هیواد کې له *برحاله* مسؤولینو او د مدني ټولنې له فعالینو سره د ۲۰۲۲ کال له اګست راهیسې د ۲۰۲۳ کال تر مارچ پورې مرکې ترسره کړې. د دوي ځوابونه د وضعیت یو انځور وړاندې کوي. مرکې د راټلونکو مواردو په اړه د غوره درک تر لاسه کولو په موخه ترسره شوي:

- آیا د تېر حکومت پرمهال رامنځ ته شوي د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو رسمي میکانیزمونه او د دوسیو د مدیریت طرز العملونه لا اوس هم کارول کیدل او که پر ځای یې کوم بدیل (بدیلونه) وضع شوي؛
- د *برحاله چارواکو* له خوا د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي کوم ډول شکایتونه تر لاسه شوي او ورته رسیدګي شوې؛ که چېرې وي، د کومې *برحاله* ادارې (ادارو) له خوا، او د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي د جرمونو مختلفو کټګوریو ته څرنګه رسیدګي شوې؛
- آیا یادو *برحاله* ادارو ځانګړي پرسونل/واحدونه درلودل چې په مشخص ډول د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي شکایتونو/قضیو ته رسیدګي وکړي؛
- آیا د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي شکایتونه نورو *برحاله* ادارو/میکانیزمونه ته راجع شوي، او پر کومو معیارونو؛ او
- آیا د زیانمنو شویو کسانو لپاره کوم حمایتي میکانیزمونه موجود وو.

په ټول افغانستان کې، یوناما *برحاله* د کورنیو چارو وزارت د پولیسو (تر دې وروسته د "*برحاله* پولیسو" په نامه یادیږي)، د څارنوالۍ واحدونو، محکمو، د عدلیې ریاستونو، او امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د ریاستونو په ګډون له *برحاله* مسؤلینو (۶۷ نارینه او څلور ښځو) سره ټولټال ۷۱ مرکې ترسره کړې. همدارنګه د مدني ټولنې له فعالینو سره، ټولټال ۸۷ مرکې (له ۵۷ نارینه وو او ۳۰ ښځو سره) ترسره شوي. سره له دې چې یوناما هڅه کړې چې د افغانستان په ټولو ۳۴ ولایتونو کې له *برحاله* مسؤولینو سره مرکې ترسره کړي، دغه کار په څلورو ولایتونو کې د مرکو لپاره د هغوي د نه لاس رسي[۳۱] یا دغو ولایتونو ته د یوناما د رسیدنې د نه وړتیا له امله شونی نه و.

د افغانستان برحاله *چارواکو* ته د راپور د محتوا په اړه د واقعي تبصرو ورکولو بلنه ورکړل شوې وه او د هغوي ځواب له راپور سره ضمیمه شوی.

[۳۱] د بادغیس، دایکندی، غور او فراه ولایتونه.

# څلورم. موندنې

## الف. د *برحاله چارواکو* له خوا د ترلاسه شویو شکایتونه ډولونه

د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي تر ټولو زیات راپور شویو شکایتونو ډولونه چې له *برحاله* پولیسو، د څارنوالۍ له واحدونو او له محکمو سره درج شوي، د وژنې،[۳۲] د هغو وژنو په ګډون چې د "ناموس"[۳۳] په نامه ترسره شوي، جنسي تیري،[۳٤] د جرح یا معلولولو؛[۳٥] او په میراث کې له تصرف څخه د یوې ښځې د منع کولو[۳٦] په تړاو دي.

*برحاله* د عدلیې ریاستونو زیاتره په میراث کې له تصرف څخه د منع کولو[۳۷] او په شخصي مالونو کې له تصرف څخه منع کولو[۳۸] په اړه شکایتونه ترلاسه کړي په داسې حال کې چې *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاستونو په میراث کې له تصرف څخه د منع کولو، د واده له حق او یا د زوج د غوره کولو له حق څخه د منع کولو، اجباري نکاح، وهل ټکول او جرحو په اړه شکایتونه ترلاسه کړي.[۳۹]

## ب. د *برحاله چارواکو* له خوا کارول شوی حقوقي چوکاټ

*برحاله چارواکو* په ډاګه کړې چې هغوی د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي د شکایتونو د اجراآتو او فیصله کولو لپاره شرعي قانون[٤٠] او دغه راز د افغانستان د تېر حکومت قوانین کاروي،[٤١] چې د تېر حکومت له قوانینو سره د ټکر په صورت کې شرعي قانون ته لومړیتوب ورکول کېږي. له دې سره سره په شمالي سیمه کې د منحل شوې لوي څارنوالۍ یوه *برحاله* مسؤول په ډاګه کړه چې "د تېر اسلامي جمهوریت د قوانینو په پرتله د شریعت له مخې د ښځو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي د جرمونو سزاګانې ډېرې کمې دي." دا معلومه نه ده چې د *برحاله چارواکو* له خوا شریعت څرنګه د ښځو او نجونو په اړه د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالی او اړوندې سزاګانې او حل لارې تعبیروي.

> **"د تېر اسلامي جمهوریت د قوانینو په پرتله د شریعت له مخې د ښځو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي د جرمونو سزاګانې ډېرې کمې دي."**
> د پخوانۍ لوي څارنوالۍ یو *برحاله* مسؤول، شمالي سیمه

[۳۲] له *برحاله* ۱۶ پولیسو، ۱۴ *برحاله* قاضیانو، او ۱۰ *برحاله* څارنوالانو سره مرکې.
[۳۳] له *برحاله* ۱۱ پولیسو، ۱۰ *برحاله* قاضیانو، او ۸ *برحاله* څارنوالانو سره مرکې.
[۳٤] له *برحاله* ۱۱ پولیسو، ۱۲ *برحاله* قاضیانو، او ۹ *برحاله* څارنوالانو سره مرکې.
[۳٥] له *برحاله* ۱۴ پولیسو، ۱۱ *برحاله* قاضیانو، او ۸ *برحاله* څارنوالانو سره مرکې.
[۳٦] له *برحاله* ۹ پولیسو، ۱۱ *برحاله* قاضیانو، او ۴ *برحاله* څارنوالانو سره مرکې.
[۳۷] *برحاله* د عدلیې ریاست له ۳ کارمندانو سره مرکې.
[۳۸] *برحاله* د عدلیې ریاست له ۳ کارمندانو سره مرکې.
[۳۹] *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست له ۲ کارمندانو سره مرکې (د دریو مرکه شویو له جملې چا چې دغې پوښتنې ته ځواب ویلی).
[٤٠] له ۳۴ *برحاله* مسؤولینو سره مرکې.
[٤١] له ۲۵ *برحاله* مسؤولینو سره مرکې.

د مرکه شویو چارواکو یوازې درې مسؤولینو وویل چې ټول هغه اعمال چې د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون له خوا جرم ګڼل شوي لا اوس هم د هغوي له خوا شکایتونو ته په رسیدګۍ کې د جرمونو په توګه پېژندل کېږي. د برحاله چارواکو له ځوابونو څخه د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي د اعمالو د "مدني" یا "جرمي" ډلبندۍ کولو معیارونه روښانه نه وو. ځینو برحاله مسؤولینو هغه اعمال چې د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون له خوا جرم ګڼل شوي – لکه اجباري نکاح،[٤٢] په شخصي ملکیت کې له تصرف څخه منع کول،[٤٣] په میراث کې له تصرف څخه منع کول،[٤٤] او وهل ټکول[٤٥] – اوس د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالي د مدني قضیو په څیر په پام کې نیولي. لږ تر لږه دریو برحاله چارواکو په ډاګه کړه چې د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي په جرمي قضیو کې یواځې هغه جرمونه شامل دي چې قرباني ته د فیزیکي زیان اړولو درلودونکي وي. راتلونکي اعمال د برحاله مرکه شویو چارواکو له خوا ډېرې وختونه د جرمي اعمالو په څېر په ګوته شوي: وژنه،[٤٦] جنسي تیرۍ،[٤٧] ضرب و جرح،[٤٨] تښتونه/اختطاف،[٤٩] مجروحول او معلولول،[٥٠] په اصطلاح زنا،[٥١،٥٢] اجباري ځان سوځول یا ځان وژل.[٥٣]

## ج. د *برحاله چارواکو* له خوا شکایتونو ته رسیدګي

د یوناما ځارنې په ډاګه کړه چې څلور *برحاله* ادارې موجود وې چې په "قانوني"[٥٤] ډول یې د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي شکایتونو ته د رسیدګۍ اجازه درلوده: پولیس، محکمې، د عدلیې ریاستونه، او پخوانۍ لوي ځارنوالي/ځارنوالان.[٥٥] پخوانۍ لوي ځارنوالۍ به د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي هغه شکایتونه چې جرمي ماهیت یې درلود د محاکمې لپاره *برحاله* محکمو او هغه چې مدني ماهیت به یې درلود *برحاله* د عدلیې ریاستونو یا *برحاله* محکمو ته راجع کول. څرنګه چې لاندې تشریح شوې، ځینې وختونه د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي شکایتونو په اړه د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاستونو له خوا منځګړیتوب ترسره شوی، سره له دې چې د دغه نقش د ترسره کولو دنده نه ده ورکړل شوې.[٥٦] دغو پنځو *برحاله* ادارو شکایتونه ترلاسه کړي، حل یا یې نورو نهادونو لکه د شخړو د حل دودیز میکانیزمونو ته د حل په پار راجع کړي.[٥٧]

---

٤٢ له دوو *برحاله* مسؤولینو سره مرکې.
٤٣ له شپږو *برحاله* مسؤولینو سره مرکې.
٤٤ له ١٢ *برحاله* مسؤولینو سره مرکې.
٤٥ له دوو *برحاله* مسؤولینو سره مرکې.
٤٦ له ١٨ *برحاله* مسؤولینو سره مرکې.
٤٧ له ١٣ *برحاله* مسؤولینو سره مرکې.
٤٨ له ٩ *برحاله* مسؤولینو سره مرکې.
٤٩ له ١٨ *برحاله* مسؤولینو سره مرکې.
٥٠ له پنځو *برحاله* مسؤولینو سره مرکې.
٥١ زنا یوه عربي اصطلاح ده چې د شریعت له مخې له واده څخه بهر د جنسي عمل د ترسره کولو د ممنوعیت لپاره کارول کیږي. زنا د شریعت له مخې د حدود جرم دی چې د خدای د اوامرو خلاف عمل ګڼل کېږي او سزا یې واجب ده .
٥٢ له ٨ *برحاله* مسؤولینو سره مرکې.
٥٣ له ٣ *برحاله* مسؤولینو سره مرکې.
٥٤ د پخوانۍ لوي ځارنوالۍ له *برحاله* چارواکي سره مرکه.
٥٥ ٨ شمېره لمنلیک وګورئ.
٥٦ د پخوانۍ لوي ځارنوالۍ له *برحاله* ولایتي رئیس سره مرکه.
٥٧ له *برحاله* مسؤولینو او د مدني ټولنې له فعالینو سره مرکې.

## برحاله پولیس

*برحاله* پولیس د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي د شکایتونو اصلي ترلاسه کوونکي وو.[۵۸] د *برحاله* پولیسو د جنايي تحقیقاتو ریاست زیاترو شکایتونو ته رسیدګي کړې او څېړلي دي او هغه يې *برحاله* څارنوالۍ واحدونو یا *برحاله* محکمو ته راجع کړې. د ۲۰۲۲ کال په اګست کې د *برحاله* څارنوالۍ واحدونو د چارو تر تعلیق وروسته د *برحاله* پولیسو له خوا *برحاله* محکمو ته په مستقیم ډول د شکایتونو ارجاع یو نورم ګرځیدلی.[۵۹]

**"...د دواړو خواوو په رضایت (مدعي او تورن شخص)، د جنايي تحقیقاتو ریاست هڅه کوي چې [د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي] په دواړو جرمي او مدني قضیو کې منځګړیتوب وکړي، خو که چېرې قضیه په ژوبلې تمامه شوې وي، بیا دغه کار نه کوي."**
***برحاله* پولیس آفسر، ختیځه سیمه**

په ۲۱ ولایتونو[۶۰] کې (د ۳۰ له جملې له کومو چې یوناما معلومات ترلاسه کړي)، د کورنیو شخړو د حل واحدونه اوس هم موجود دي، چې ۱۸ ولایتونه[۶۱] په یاد واحد کې لږ تر لږه یوه ګمارل شوې پولیس آفسره لري. په اتو ولایتونو کې،[۶۲] ښځینه پولیس آفسرانې تر هغې وظیفې ته د حاضریدو اجازه نه درلوده ترڅو چې د خپلو سوپروایزرانو له خوا نه وې غوښتل شوې. په دوو ولایتونو کې،[۶۳] د دغه واحد ښځینه پولیس آفسرانې د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي د شکایتونو په تحقیقاتو کې نه وې ښکیلې، د دغې چارې ترسره کول د هغوی نارینه همکارانو ته پاتې شوي.

کله چې *برحاله* پولیس د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي شکایتونه ترلاسه کړي، مخکې تر دې چې هغه نورو نهادونو ته راجع کړي، هغوی يې لومړی د حل کولو هڅه کوي.[۶۴]

**"که چېرې ښځه او مېړه خو ماشومان ولري، پولیس د ماشومانو راتلونکې په پام کې نیسي او د ښځې او مېړه ترمنځ روغه جوړه کوي."**
**د *برحاله* پولیسو د جنايي تحقیقاتو د ریاست رئیس، ختیځه سیمه**

---

۵۸ له ۵۶ *برحاله* مسؤولینو او د مدني ټولنې له ۷۸ فعالینو سره مرکې.
۵۹ ۸ شمېره لمنلیک وګورئ.
۶۰ د بدخشان، بغلان، بلخ، بامیان، فاریاب، غزني، جوزجان، کاپیسا، خوست، کندز، لغمان، ننګرهار، نورستان، پکتیا، پروان، سمنګان، سر پل او تخار ولایتونه. معلومات له ۳۰ ولایتونو څخه ترلاسه شوي.
۶۱ د بدخشان، بغلان، بلخ، بامیان، فاریاب، غزني، جوزجان، کاپیسا، خوست، کندزو، لغمان، ننګرهار، نورستان، پکتیا، پروان، سمنګان، سرپل او تخار ولایتونه.
۶۲ د بدخشان، خوست، غزني، کندز، لغمان، ننګرهار، نورستان او پکتیا ولایتونه.
۶۳ د بامیان، او غزني ولایتونه.
۶۴ له *برحاله* ۱۱ پولیسو سره مرکې.

داسې ښکاري چې دغه حال صدق کوي، د مثال په ډول په هغو مواردو کې چې د واده ثمره ماشومان وي، یا چېرې چې دواړو خواوو له منځګړيتوب سره رضايت ښودلی وي، د هغو مواردو په استثناء کله چې شکایت د طرفینو یوې خوا ته د فیزیکي ژوبلې په تړاو وي. په جنوبي سیمه کې د پولیسو یوه *برحاله* آفسر وویل چې "کوچنۍ قضیې لکه په عام محضر کې د یوې ښځې سپکاوی یا د یوې ښځې ګواښل، ... مدني قضیې ګڼل کېږي او د منځګړيتوب له لارې حل کېږي. هغه چې کوچنۍ قضیې ګڼل کېږي لوړ پوړو چارواکو ته نه استول کېږي." د مرکزي سیمې د پولیسو *برحاله* قوماندان وویل چې "[د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي قضیو] ته د منځګړيتوب د دودیزو جوړښتونو له لارې رسیدګي کېږي" او له نورو *برحاله* پولیسو[۶۵] او د مدني ټولنې له فعالینو[۶۶] سره مرکو عین څه په ډاګه کړل. له مرکو دا نه روښانه کېده چې د "منځګړيتوب د دودیزو جوړښتونو" هدف څه دی.

منځګړيتوب ته د شکایتونو له راجع کولو تر مخه، ځینو *برحاله* پولیسو[۶۷] د ارجاع په اړه تر اجرآاتو مخکې مدعي ته د دې انتخاب برابر کړی چې آیا دوی غواړي چې شکایت ته یې په رسمي ډول رسیدګي وشي او که د شخړو د حل دودیز میکانیزم ته راجع شي.

## برحاله محکمې

*برحاله* محکمې د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي د شکایتونو دویم اصلي ترلاسه کوونکې وې.[۶۸] دوی د شرعي قانون په کارونې سره د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي د دواړو مدني او جرمي شکایتونو په اړه پرېکړې کړي، او مدني قضیې یې د شخړو د حل دودیزو میکانیزمونو ته راجع کړي، مګر دا چې مجني علیها د دې غوښتنه کړې وي چې موضوع ته دې د محکمو له خوا رسیدګي وشي.[۶۹] د مثال په ډول، په ختیځه سیمه کې د استیناف محکمې *برحاله* رئیس په ډاګه کړه چې "محکمې له مدعي څخه پوښتنه کوي چې څرنګه غواړي قضیې ته یې رسیدګي وشي، لکه د قومي مشرانو یا د محکمو له لارې. محکمې د مدعي خوښې ته درناوی کوي... د رسمي قضايي سیستمونو برعکس چې د کورنۍ د غړو یا خپلوانو په پردیتوب تماميږي، د شخړو د حل غیر رسمي میکانیزمونه په ګټونکي یا بایلونکي نه تماميږي،" هغه زیاتوي، لکه په میراث کې له تصرف څخه د منع کولو (د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون له مخې جرم ګڼل شوی) یا د شفاهي تیري قضیې د حل په پار د شخړو د حل دودیزو میbکانیزمونو ته راجع شوي، مګر دا چې مجني علیها د دې غوښتنه کړې وي چې موضوع ته دې د محکمو له خوا رسیدګي وشي.

## د عدلیې برحاله ریاستونه

د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي د شکایتونو دریيم په کوته شوی تر ټولو زیات ترلاسه کوونکی د عدلیې ریاستونه دي.[۷۰] په داسې حال کې چې دغو ریاستونو د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي هر ډول شکایتونه ترلاسه کړي، دوی مخکې له دې چې شکایتونه د شخړو د حل دودیزو میکانیزمونو یا *برحاله* محکمو ته راجع کړي، د ملکیت له حقونو څخه د بې برخې کولو، میراث

[۶۵] له *برحاله* ۱۶ پولیسو سره مرکې.
[۶۶] د مدني ټولنې له ۶۰ فعالینو سره مرکې.
[۶۷] له *برحاله* ۸ پولیسو سره مرکې.
[۶۸] له ۴۴ *برحاله* مسؤولینو او د مدني ټولنې له ۴۲ فعالینو سره مرکې.
[۶۹] له ۱۲ *برحاله* قاضیانو سره مرکې.
[۷۰] له ۲۷ *برحاله* مسؤولینو او د مدني ټولنې له ۱۲ فعالینو سره مرکې.

موضوعاتو، نفقې، جلا کولو/طلاق قضیو په ګډون یوازې پې د مدني هغو په اړه منځګړیتوب کړی. د جنايي ماهيت لرونکو شکايتونه *برحاله* پولیسو (په مشخص ډول د جنایي تحقیقاتو ریاست)، محکمو او د څارنوالۍ واحدونو ته راجع شوي.[71] په مرکزي سیمه کې د *برحاله* عدلیې ریاست یوه مسؤول په ډاګه کړه چې د ده دفتر د وهلو ټکولو (د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون له مخې جرم ګڼل شوی) د شکایتونو په ګډون د کورني تاوتریخوالي یو شمېر شکایتونو ته چې ښځې اغیزمنوي رسیدګي کوي. هغه پر دې ټینګار وکړ چې "منځګړیتوب غوره دی، ځکه د محکمو له لارې د قضیو حل کول ډېر وخت نیسي."

**" منځګړیتوب غوره دی، ځکه د محکمو له لارې د قضیو حل کول ډېر وخت نیسي."**
**په مرکزي سیمه کې د *برحاله* عدلیې ریاست یو چارواکی.**

که چېرې د *برحاله* عدلیې ریاستونو او/یا د شخړو د حل د دوديزو میکانیزمونو له خوا د منځګړیتوب له لارې یوه حل ته و نه رسیږي، یا که چېرې مدعي د *برحاله* محکمې د انتخاب غوښتنه کړې وي، دا هغه مهال دی چې شکایتونه *برحاله* محکمو ته راجع شوي.[72] د مثال په ډول، په جنوبي سیمه کې د *برحاله* عدلیې ریاست یوه چارواکي په ډاګه کړه چې کله د هغه دفتر یو شکایت تر لاسه کوي، "...هغه ښايي ښځې ته مشوره ورکړي چې د هغې د مېړه کورنۍ ته لاړه شي او له هغوی وغواړي چې د موضوع په حل کولو کې ورسره مرسته وکړي." که چېرې ښځه د *برحاله* د عدلیې ریاست له خوا د موضوع پر حل کولو ټینګار وکړي، هغوی د ښځې مېړه راغواړي او له هغه غوښتنه کوي چې ترسره شوی عمل بیا تکرار نه کړي، او د دغه هدف په پار له هغه څخه له سوګند سره مل بیان اخلي. کله چې مدعي دا غوره کړي چې موضوعات محکمې ته یوسي، *برحاله* د عدلیې ریاست د هغې ښځې لپاره چې د حقوقي وکالت د درلولو توان نه لري، مدافع وکیل برابروي. په وروستي مورد کې، د مرکو له ځوابونو دا څرګنده نه شوه چې آیا دغه خدمت په ټول افغانستان کې په پراخه کچه د لاس رسي وړ و.

## د برحاله څارنوالۍ واحدونه

د ۲۰۲۲ کال په اګست د دوي د دندو تر تعلیقولو او تر هغې وروسته د ۲۰۲۳ کال په مارچ[73] کې د طالبانو د مشر له خوا د لوي څارنوالۍ تر بدلولو پورې، د پخوانۍ څارنوالۍ *برحاله* واحدونه د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي د شکایتونو د ترلاسه کولو څلورم اصلي ترلاسه کوونکي وو. دا چې دوی څرنګه شکايتونه ترلاسه کول هیڅ نه ده توضیح شوې خو دوي یوازې هغه شکایتونه ترلاسه کول کومو چې جرمي ماهیت درلود/د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون له خوا جرم ګڼل شوي وو. د دوي په دندو کې د تحقیقاتو ترسره کول، د تورنو کسانو په ضد د اتهامنامو چمتو کول، د *برحاله* محکمو له خوا د ترسره شویو پرېکړو د تطبیق ڈاډمنول، او کله چې د ټیټو محکمو قضاوت/فیصله د توجیه وړ نه وه، لوړو محکمو ته استیناف کول شامل و. د اتهامنامو په لیکلو کې، *برحاله* د څارنوالۍ واحدونو "شرعي قانون" په ځانګړې ډول "حنفي فقه" کاروله، کوم چې د *برحاله* قاضیانو له خوا د قضیو په پرېکړو کې کارول کېږي.[74] د *برحاله* څارنوالۍ

---

[71] ۸ شمېره لمنلیک وګورئ.
[72] د *برحاله* عدلیې ریاست له ۶ مسؤولینو سره مرکې.
[73] ۸ شمېره لمنلیک وګورئ.
[74] له *برحاله* ۱۱ څارنوالانو سره مرکې.

په ځينو واحدونو کې، د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسيت پر بنسټ د تاوتريخوالي د شکايتونو د اجراآتو په پار د تېر حکومت قوانين کارول کيدل، لکه د ۲۰۱۴ کال د جزايي اجراآتو قانون، خو يوازې هغه مهال چې احکام به له شرعي قانون سره په تطابق کې وو؛ که نه نو هغه په پام کې نه نيول کيدل.[۷۵]

د پخوانۍ لوي څارنوالۍ د هدف تر بدلون مخکې،[۷۶] د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي د له منځه وړلو د اختصاصي څارنوالۍ واحدونه په ۲۲ ولايتونو کې موجود وو. د مرکو تر وخت پورې، دغه واحدونه په پنځو ولايتونو[۷۷] کې نور نه وو موجود. په ۲۲ نورو ولايتونو کې چېرې چې دغه واحدونه موجود وو، په پنځو ولايتونو[۷۸] کې يې ښځينه څارنوالانې نه درلودې او په پاتې ۱۷ ولايتونو کې، په ۱۲ ولايتونو کې ښځينه څارنوالانو ته اجازه نه وه ورکړل شوې د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسيت پر بنسټ د تاوتريخوالي جرمونو په تحقيقاتو کې دخيلې شي.[۷۹]

## برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر رياستونه

د شکايتونو د حل د دندې ترڅنګ چې د عامو خلکو له خوا اړوندو ادارو ته د *برحاله چارواکو* پر ضد د ترسره شويو شکايتونو تحقيقات او ارجاع په کې شامل دی، *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ځينو رياستونو[۸۰] همدارنګه د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسيت پر بنسټ د تاوتريخوالي د مدني ماهيت لرونکي او د "اخلاقي جرمونو" په نامه – لکه زنا[۸۱] او داسې موارد چېرې چې ښځې/نجونې له کوره تښتېدلې وي، چې د "تېښتې" په نامه ياديږي – شکايتونه تر لاسه کړي او په اړه يې منځګړيتوب ترسره کړی، دغو رياستونو په انحصاري ډول د شرعي قانون په کارونې سره دغه قضيې حل کړې دي.[۸۲] په ختيځه سيمه کې *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د رياست يوه مسؤول په ډاګه کړه چې د ده دفتر د اجباري نکاح او "د واده له حق او يا د زوج د غوره کولو له حق څخه د منع" قضيې حل کړې (دواړه د ښځې پر عليه د تاوتريخوال د منع قانون له خوا جرم ګڼل شوي). په ختيځه سيمه کې *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د رياست يوه بل مسؤول په ډاګه کړه چې د واده لپاره د دواړو نارينه او ښځينه وو لپاره د *برحاله چارواکو* له خوا ټاکل شوی عمر ۱۸ کلونه دي. هغه څرګنده کړه چې *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر رياست د يوې نجلۍ د هغه واده مخه نه نيسي چې عمر يې له ۱۸ کلونو کم وي او له واده سره توافق لري.

*برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د رياست له خوا تر لاسه شوي زياتره شکايتونه د اجباري نکاح او د ميراث د موضوعاتو په تړاو وو.[۸۳] نوموړي رياست دغه شکايتونه د حل په پار علماؤو او جرګو ته، يا يې د *برحاله* محکمو ته قضاوت په موخه راجع کړي، د *برحاله* محکمو له خوا قضيه يوازې هغه مهال حل شوې کله به چې قضيه ستونزمنه وه يا کله به چې علماء او جرګې د موضوع په حل کې پاتې راغلل. *برحاله* د امر

[۷۵] له *برحاله* ۹ څارنوالانو سره مرکې.
[۷۶] ۸ شمېره لمنليک وګورئ.
[۷۷] هغه ولايتونه چېرې چې د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي د له منځه وړلو د اختصاصي څارنوالۍ واحدونه موجود دي: بدخشان، بادغيس، بغلان، بلخ، فراه، فارياب، غزني، غور، هرات، جوزجان، خوست، کونړ، کندز، لغمان، ننګرهار، نيمروز، نورستان، پکتيکا، پکتيا، سرپل، سمنګان او تخار. هغه ولايتونه چېرې چې د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي د له منځه وړلو د اختصاصي څارنوالۍ واحدونه موجود نه وو: باميان، هلمند، کندهار، اروزګان، او زابل. معلوماتو له ۲۷ ولايتونو څخه تر لاسه شوي.
[۷۸] د بادغيس، فراه، غور، هرات او نيمروز ولايتونه.
[۷۹] د بدخشان، بغلان، غزني، خوست، کونړ، کندز، لغمان، ننګرهار، نورستان، پکتيکا، پکتيا او تخار ولايتونه.
[۸۰] د *برحاله* امر بالمعروف او نهي عن المنکر رياستونو له ۳ رئيسانو، له ۱۵ نورو *برحاله* مسؤولينو، او د مدني ټولنې اوو فعالينو سره مرکې.
[۸۱] ۵۱ شمېره لمنليک وګورئ.
[۸۲] له ۱۸ *برحاله* مسؤولينو او د مدني ټولنې اوو فعالينو سره مرکې.
[۸۳] د *برحاله* امر بالمعروف او نهي عن المنکر رياستونو له دوو رئيسانو سره مرکې.

بالمعروف او نهي عن المنکر رياستونو همدارنګه د جرمي ماهيت لرونکي شکايتونه *برحاله* محکمو يا پوليسو ته راجع کړي، لکه د ميرمن وهل ټکول چې له امله يې ژوبله رامنځ ته شوې، او جنسي تيرى. *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د رياستونو[۸۴] ځينو مسؤولينو ويلي چې د دوي دفترونو ته د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسيت پر بنسټ د تاوتريخوالي شکايتونو ته د رسيدګۍ دنده نه ده سپارل شوې، او شکايتونه د *برحاله* پوليسو، محکمو، د څارنوالۍ د واحدونو او عدلي رياستونو پر ځای دوي ته راجع شوي.

*برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر رياستونو د ۲۰۲۱ کال په سپتمبر مياشت کې د ښځو د چارو د پخوانيو رياستونو دفترونه او پرسونل تر لاسه کړل. د ښځو د چارو د پخوانيو رياستونو ښځينه کارمندانې د "اړتيا پر بنسټ" يا يوازې هغه مهال کله چې د خپلو آمرينو له خوا وغوښتل شي، دفترونو ته حاضريږي، د مثال په ډول چې په يوه مشخص کار کې ګډون وکړي يا کله چې د حاضري لاسليک کولو لپاره وغوښتل شي.

## برحاله واليان او ولسوالان

*برحاله* واليانو او ولسوالانو هم د جنسيت پر بنسټ د ښځو او نجونو له خوا د تاوتريخوالي شکايتونه ترلاسه کړي[۸۵] خو دا بيا وروسته *برحاله* عدلي نهادونو ته راجع شوي.[۸۶] په زياتره دغو قضيو کې، قومي مشرانو د دغه شکايتونو په اړه د منځګړيتوب هڅه/ منځګړيتوب کړى، له جدي جرمونو پرته لکه وژنه کوم چې معمولا *برحاله* پوليسو يا محکمو ته د تحقيقاتو او محاکمې په پار راجع شوي.[۸۷]

## د شخړو د حل دوديز ميکانيزمونه

په مرکزي سيمه کې د *برحاله* پوليسو يوه قوماندان او په ختيځه سيمه کې د *برحاله* ابتدائي محکمې يوه قاضي دواړو د دې يادونه وکړه چې د جنسيت پر بنسټ د تاوتريخوالي ښځينه زيانمنې شوې د شخړو د حل د دوديزو ميکانيزمونو له لارې د خپلو شکايتونو د حل غوښتنه کوي.

> **"که چېرې [د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسيت پر بنسټ د تاوتريخوالي] کومه قضيه رامنځ ته کيږي، هغې ته د ځايي جوړښتونو لکه علماؤو، ملايانو، امامانو، او داسې نورو له خوا د منځګړيتوب له لارې حل کيږي. هغوي ډېر کم پوليسو ته مراجعه کوي."**
> په مرکزي سيمه کې د *برحاله* پوليسو يو قوماندان

[۸۴] د *برحاله* امر بالمعروف او نهي عن المنکر رياستونو له شپږو رئيسانو سره مرکې.
[۸۵] له ۱۷ *برحاله* مسؤولينو او د مدنې ټولنې له ۸ فعالينو سره مرکې.
[۸۶] له *برحاله* والي، د والي له دفتر څخه يوه چارواکي، او مرستيال والي سره مرکې.
[۸۷] همدا مأخذ.

د مدني ټولنې د مرکو ځوابونو هم دغه غبرګون منعکس کړې، د دې په ډاګه کولو سره چې زیاتره قربانیان د شخړو د حل د دودیزو میکانیزمونو له اړې د خسارې جبران په لټه کې دي او د دوباره قرباني کیدو د ویرې په ګډون له *برحاله چارواکو* څخه د ویرې له امله له *برحاله* ادارو[88] سره شکایتونه نه درج کوي.[89]

په زړه پورې ده، ډیری رسمي *برحاله* عدلي نهادونو – *برحاله* پولیسو، د څارنوالۍ واحدونو او د عدلیې ریاستونو – د شخړو د حل د دودیزو میکانیزمونو ارجاع او د ارجاع ګانو پاليلې ثبت کړې.[90] لا روښانه نه ده چې آیا د دغه ډول سوانحو لپاره کومه مرکزي زیرمه موجوده ده یا نه.

## د. د ښځو حمایتي میکانیزمونه

په هر ولایت کې د نه شتون سره سره، د ۲۰۲۱ کال د اګست تر ۱۵ نېټې پورې، د دولت په مالي ملاتړ د ښځو ۲۳ حمایوي ځانګړي مرکزونه موجود وو چې د داخلي نا دولتي سازمانونو له خوا د افغانستان په ۲۲ ولایتونو کې پرمخ وړل کېدل.[91] مرکه ورکوونکو نږدې په یوه خوله تایید کړه چې اوس مهال په ټول هیواد کې د دولت په مالي ملاتړ د ښځو د حمایت داسې کوم ځانګړي مرکزونه یا امن خونې نشته چیرې چې زیانمنې شوې پناه وړلی شي.[92]

په شمالي سیمه کې یوه *برحاله* پولیس آفسر وویل چې د ښځو امن خونې یوه غربي مفکوره ده، او پر دې یې ټینګار کاوه چې ښځې باید له خپلو ورونو، پلرونو یا مېړونو سره پاتې شي. په شمالي سیمه کې د پخوانۍ لوی څارنوالۍ یوه *برحاله* مسؤول وویل "... دغه ډول امن خونو ته اړتیا نشته. هیڅوک به ښځو ته ضرر و نه ورسوي ترڅو چې د اسلامي امارت واکمني وي." د *برحاله* استیناف محکمې یوه قاضي په ډاګه کړه چې *برحاله* کابینې یوه څېړنه ترسره کوله څو دا وارزوي چې آیا د ښځو امن خونو ته اړتیا شته.

> **"اسلامي امارت د ښځو لپاره کومه امن خونه نه لري. دوی باید له خپلو مېړونو یا د کورنۍ له نورو نارینه غړو – د هغوی له محرم[93] سره و اوسي."**
>
> **د عدلیې ریاست یو *برحاله* مسؤول، جنوبي سیمه**

ځینو *برحاله* مسؤولینو خبر ورکړی چې د زیانمنو شویو د حمایت او ساتنې په پار، دوی د زیانمنې شوې له نارینه خپلوانو د دې ژمنه غوښتې – په ځینو مواردو کې له سوګند سره مل بیانونه – چې مجني علیها[94] ته به زیان نه رسوي او همدارنګه یې

[88] له دوه *برحاله* مسؤولینو او د مدني ټولنې له ۶۵ فعالینو سره مرکې.
[89] د مدني ټولنې له ۳۹ فعالینو سره مرکې، چیرې چې دغه ځوابونه پرته له دې چې یوناما د زیانمنو شویو له خوا د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي د پېښو د نه راپور ورکولو او/یا کم راپور ورکولو په اړه ځانګړې پوښتنې وکړي، تر لاسه شوي.
[90] له ۳۰ *برحاله* مسؤولینو سره مرکې.
[91] دا د بدخشان، بادغیس، بغلان، بلخ، بامیان، دایکندي، فراه، فاریاب، غور، هرات، جوزجان، کابل، کاپیسا، کندز، کونړ، ننګرهار، نیمروز، پکتیا، پروان، سمنګان، سرپل او تخار ولایتونه وو. د ۲۰۱۹ کال د اپریل پر ۱۷ نېټه، د تاوتریخوالي د مخنیوي او عامه پوهاوي کاري ګروپ، په کوم کې چې د اسلامي جمهوریت تېر حکومت، ملګري ملتونه او د مدني ټولنې سازمانونه شامل وو، د حمایتي مرکزونو لپاره د ښځو د چارو د پخواني وزارت وړاندیز [پروپوزل] تایید کړ. دغه کار هدف دا و چې د دولت له خوا په ټول افغانستان کې د ښځو د حمایت مرکزونو د فعالیت لپاره د منظمې کلنۍ بودیجې زمینه برابره کړي.
[92] له ۶۷ *برحاله* مسؤولینو او د مدني ټولنې له ۸۷ فعالینو سره مرکې.
[93] "محرم" د یوې ښځې مېړه، یا د هغې نږدې نارینه خپلوانو (لکه پلار، ورور، ماما ګانو، کاکا ګانو او د هغې وریرونو او خوریانو) ته ویل کېږي له چا سره چې د شریعت په موجب واده نه شي کولی.
[94] له ۹ *برحاله* مسؤولینو سره مرکې.

ځايي قومي مشران راغوښتي څو د کورنۍ د غړو له خوا د دغه تضمین د ورکولو شاهدان واوسي.[۹۵] ځينو برحالو مسؤولينو[۹۶] په ډاګه کړې چې په هغو مواردو کې چېرې چې هغوي د زيانمنې شوې په اړه د خونديتوب اندېښنې لرلې، د هغې د ساتنې په خاطر مجني عليها د ښځو زندان ته لېږدول شوې، په هماغه ډول څرنګه چې پر نشه يي توکو د روږدو او بې کوره خلکو د ميشتيدنې لپاره په کابل کې زندانونه کارول شوي.[۹۷]

۹۵ د *برحاله* عدلیې ریاست له یوه مسؤول، له ۴ *برحاله* پولیسو، او د پخوانی *برحاله* لوي څارنوالۍ له ۲ مسؤولينو سره مرکې.
۹۶ د یوه *برحاله* قاضي په ګډون له ۷ *برحاله* مسؤولينو سره مرکې.
۹۷ د مثال په ډول وګورئ، *د کابل ښار د فقيرانو [سوال ګرو] د راټولولو او مساعدت په هکله حکم*، ۱۴۴۳/۷/۲۵ [يا ۲۶ فبروري ۲۰۲۲].

# پنځم. پایله

د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي د زیاترو شکایتونو د ترلاسه کوونکې ادارې په توګه، *برحاله* پولیس د *برحاله* ادارو ترمنځ هغه اصلي اداره وه چې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي د اعمالو څخه مدعي ښځو او نجونو د شکایتونو له لارې ورته د مراجعې هڅه کوله. تر دې وروسته، *برحاله* محکمې، د عدلیې ریاستونه، او د پخوانۍ څارنوالۍ واحدونه هغه ادارې وې چې د تاوتریخوالي د اعمالو مدعي ښځو او نجونو به ورته د مراجعې هڅه کوله. *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت همدارنګه شکایتونه تر لاسه کړي او حل کړي، په ځانګړې ډول هغه چې د میراث، د واده له حق یا د زوج د غوره کولو له حق څخه د منع، او اجباري نکاح په تړاو وو.

کله چې د ښځو او نجونو له خوا د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي شکایتونو د اجراآتو موضوع مطرح کېږي، دا روښانه نه ده چې *برحاله* کوم رسمي عدلي اداره د عدلي سلسله مراتبو په پام کې نیولو سره د کوم اقدام مسؤولیت لري. د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي شکایتونو ته د رسیدګۍ په اړه د *برحاله* مختلفو ادارو ترمنځ د وظایفو د دقیق تفکیک نشتون او ادارو ترمنځ ارجاع، د عدلي فعالینو لپاره د احتساب تشه رامنځ ته کوي او د ښځو او نجونو لپاره دا ستونزمن کوي چې کله د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي په اړه شکایت ولري، کومې ادارې ته مراجعه وکړي.

دغه وضعیت د *برحاله* قانون تطبیق کوونکو او عدلي ادارو عمدتا د نارینه کارمندانو له خوا د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي شکایتونو ته رسیدګي پیچلې کړې. د راپورونو له مخې زیاتره زیانمنې شوې د *برحاله چارواکو* له ویرې د شخړو د حل د دودیزو میکانیزمونو له لارې د خپلو د ستونزو حل ته ترجیح ورکوي. د ښځینه کارمندانو او د ذاتي کلتوري مقتضیاتو نشتون په بالقوه توګه په ارادي او نا ارادي ډول[98] زیانمنې شوې د شکایت له درج کولو زړه توري کوي او د هغوي مانع ګرځي، چې په دې ډول د قربانیانو او/یا له خطر سره مخ ښځو او نجونو له خوا پر *برحاله* عدلي نظام په بې باورۍ کې مرسته کوي.

د ښځې په وړاندې د تاوتریخوالي د منع په قانون کې د تصریح شویو وصفونو برعکس، د *برحاله چارواکو* له خوا د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي د جرمي ماهیت لرونکو او د مدني ماهیت لرونکو د ښځو او نجونو د شکایتونو ترمنځ کوم څرګند توپیر موجود نه و، چې قضاوت کوونکې ادارې ته د ارجاع ګانو د ترسره کولو په ګډون *برحاله* د قانون د تطبیق او عدلي هرې انفرادي ادارې پخپلسرې ډول دغه تفکیک ترسره کړې. دغه عمل د ښځو او نجونو لپاره موثر قانوني حمایت نه تضمینوي، چې د بشري حقونو له نړیوالو معیارونو سره په ټکر کې دی، او د قانون د تبعیضي تطبیق لپاره تشه رامنځ ته کوي.

هغه شکایتونه چې د جرمي ماهیت لرونکي ګڼل کېدل – په ځانګړې ډول هغه چې د ښځو یا نجونو د ژوبلې لامل شوي – د *برحاله* پولیسو د جنايي تحقیقاتو د ریاست او د پخوانۍ څارنوالۍ د واحدونو[99] له خوا څېړل شوي، او د شرعي قانون په کارونې سره د *برحاله* محکمو له خوا فیصله شوي. دغه ډول شکایتونو ته په رسیدګۍ کې، *برحاله* پولیسو او د پخوانۍ څارنوالۍ واحدونو د ۲۰۱۴ کال د جزایي اجراآتو د قانون په ګډون د تېر حکومت د قوانینو له شریعت سره تطابق لرونکي احکام کارولي، په ځانګړې ډول له بندیانو سره د چلند (تورن مرتکبین/متهمین)، او له محاکمې مخکې د توقیف د اوږدوالي د اړخونو په تړاو. اتهامنامې هم یوازې له شرعي

[98] ۸۹ شمېره لمنلیک وګورئ.
[99] ۸ شمېره لمنلیک وګورئ.

قانون څخه په ګټې سره چمتو شوي. هغه شکایتونه چې د مدني ماهیت لرونکي انګیرل شوي په مستقیم ډول *برحاله* د عدلي ریاستونو، محکمو یا د شخړو د حل دودیزو میکانیزمونو ته راجع شوي.

په برحاله د کورنیو شخړو د حل په ځینو واحدونو کې د ښځینه پولیس آفسرانو نشتون[۱۰۰] او دا واقعیت چې په ځینو ولایتونو[۱۰۱] کې د کورنیو شخړو د حل واحدونو ښځینه آفسرانې د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي د شکایتونو په تحقیق کې نه وې دخیلې شوې د جنسیت اړخونو مراعاتونکې پالیسۍ ته وده نه ورکوي کوم څه چې د لاس رسي وړ رسمي عدلي سیستم لپاره اړین ګڼل کېږي. په ۳۰ شمېره عمومي تبصره کې، د ښځو په وړاندې د تبعیض د له منځه وړلو کمېټې یادونه کړې چې دولتونه باید عدالت ته د ښځو او نجونو لاس رسی ډاډمن کړي او جنسي او جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالي ته د رسیدګۍ په پار داسې تحقیقاتي طرز العملونه طرح کړي چې د جنسیت اړخونه په پام کې نیسي.[۱۰۲]

په ورته ډول، د مرکو تر وخت پورې، د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو د اختصاصي څارنوالۍ واحد لپاره، په داسې حال کې چې په ۲۲ ولایتونو کې لا هم شتون درلود، خو په یوه ډول منابع ورته برابرې شوي نه دي، چې پنځه ولایتونه د هغوي د واحد د برخې په څېر ښځینه څارنوالانې نه لري.[۱۰۳] چېرې چې ښځینه څارنوالانې موجودې وې، هغوي د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي د شکایتونو په تحقیقاتو کې نه وې دخیل شوې.[۱۰۴] په یوه داسې چاپیریال کې چېرې چې له بنسټیزو بشري حقونو او آزادیو څخه د ښځو او نجونو پر برخمن کېدو محدودیت وضع شوی وي، د یادو څانګړو میکانیزمونو له کم شوي ظرفیت، کمې ګټې اخیستنې او/یا د کاري ساحې له بدلون سره مل په *برحاله* قانون تطبیق کوونکو او عدلي ادارو کې د ښځو محدود ګډون، عدالت ته د ښځو او نجونو د لاس رسي له حق څخه په سرغړونه او د هغوي د شکایت په رسمي ختمېدو کې مرسته کوي.

دا چې *برحاله* پولیسو، محکمو او د عدلي ریاستونو، د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالي شکایتونو ته، د *برحاله* محکمو له لارې د عدلي تعقیب او محاکمې پر ځای منځګړیتوب ته لومړیتوب ورکاوه – د هغو اعمالو په ګډون چې د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون له خوا جرم ګڼل شوي لکه وهل ټکول او د میراث له حق څخه د یوې ښځې بې برخې کول – داسې معلومېده چې زیاتره شکایتونه په معمول او عملي ډول لومړی له منځګړیتوب تېر شوي. د شخړو د حل د دودیزو عنعنوي میکانیزمونو کارونه کیدای شي د بشري حقونو سرغړونې تشکیل کړي که چیرې د بشري حقونو له نړیوال قانون سره مطابقت فعالیت و نه لري. *برحاله* چارواکي د هر هغه شخص چې د دغو میکانیزمونو د فعالیت له امله اغیزمن شوی د حقونو د ساتنې مکلفیت لري. د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالی نه باید په الزامي ډول د شخړو د حل بدیلو طریقو لکه منځګړیتوب ته راجع شي.[۱۰۵]

---

[۱۰۰] ۶۱ او ۶۲ شمېره لمنلیکونه وګورئ.

[۱۰۱] ۶۳ شمېره لمنلیک وګورئ.

[۱۰۲] د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو په اړه د ملګرو ملتونو کمیټه، د جګړو په مخنیوي، جګړې او تر جګړې په وروسته حالاتو کې د ښځو په اړه ۳۰ *شمېره عمومي تبصره (۲۰۱۳)،*CEDAW/C/GS/30 ، ۱ نومبر ۲۰۱۳، ۳۸ پاراګراف (ج).

[۱۰۳] ۷۸ شمېره لمنلیک وګورئ.

[۱۰۴] ۷۹شمېره لمنلیک وګورئ.

[۱۰۵] د ملګرو ملتونو د بشري حقونو کمیټه، نړیوال مدني او سیاسي حقونه، ۳۲ شمېره عمومي تبصره، ۱۴ ماده: د محاکمو، څانګړو محاکمو او عادلانه محاکمه په وړاندې د برابری حق،CCPR/C/GC/32 اګست ۲۳، ۲۰۰۷ کال. د ملګرو ملتونو د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو کمیټه، د جګړې په مخنیوي کې، د جګړې او تر جګړې په وروسته حالاتو په اړه ۳۰ *شمېره عمومي تبصره،* CEDAW/C/GC/35، ۲۶ جولای ۲۰۱۷، ۳۲ (ب) پاراګراف.

ځینو *برحاله چارواکو*[۱۰۶] محبسونو ته په هغو مواردو کې د زیانمنو شویو د راجع کولو خبر ورکړی چېرې چې زیانمنو شویو *محرم* نه درلود چې ورسره پاتې شي، یا چېرې چې له *محرم* سره د زیانمنې شوې پاتې کېدل خوندي نه ګڼل کېدل. دا روښانه نه ده چې آیا دغه ارجاع ګانې د محکمې د حکم پر اساس وې. د بشري حقونو د نړیوال قانون له مخې، له آزادۍ څخه محرومیت نه باید غیر قانوني او نه هم خپلسری وي. د خپلسرۍ په مفهوم کې د نامتناسبوالي، بې عدالتۍ، د وړاندوینې او د قانوني اجراآتو او دغه راز د معقولیت، اړتیا او تناسب د نشتوالی عنصرونه شامل دي.[۱۰۷] د جنايي قانون له تطبیق بهر او د جنسیت پر بنسټ له تاوتریخوالي د هغوي د ساتنې د ډاډمنولو په موخه په زندانونو کې د ښځو بندي کول له آزادۍ څخه خپلسری محرومیت تشکیلوي. د هغو ښځو بندي کول څوک چې لا وار د مخه په یوه تنبیهي چاپېریال کې د زیانمنتوب په حالت کې دي، همدارنګه د دې احتمال لري چې د دوی پر رواني او جسمي روغتیا منفي اغیز وکړي، بیاځلی زیانمنه شي او تر خوشي کیدو وروسته د تبعیض او بدنامۍ/پیغور له خطر سره مخ شي. *برحاله چارواکو* د جنسیت پر بنسټ له تاوتریخوالی څخه د ښځو او نجونو د ساتنې، له خطر سره د مخ ښځو او نجونو لپاره د اړینو امن خونو یا سرپناوو[۱۰۸] په برابرولو سره د احتمالي زیان د راکمونې په ګډون، مکلفیت لري.

په تاریخي ډول، د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي افغان ښځو او نجونو لپاره عدالت ته لاس رسی له هغو ننګونو ډک دی چې له ټولنیزو- کلتوري مفاهیمو او د جنسیتي نورمونو او ارزښتونو له اعمالو سرچینه اخلي کوم چې ذاتا د ښځو او نجونو په وړاندې له تبعیض ډک دي. د ۲۰۰۱ او ۲۰۲۱ ترمنځ، افغانانو د تاوتریخوالي د بهیر د دربېدو او د ښځو او نجونو د حقونو په پار نه ستړې کېدونکې دقیقې هڅې ترسره کړې. په دغو هڅو کې د نورو تر څنګ د قانون او پالیسي اصلاحات، د ځانګړو میکانیزمونو جوړول، د قانون تطبیق کوونکو او عدلي ادارو کې د متخصصو پرسونلو ګمارنه او روزنه، او د ښځو د حمایتي او حفاظتي مرکزونو جوړول شامل وو. پر هیواد د طالبانو تر ولکې وروسته نږدې دغه ټول شیان له منځه تللي. د یوه شکایت په پام کې نیولو سره نور نو د قربانیانو لپاره د مدني حل لارو او خسارې جبران په ګډون رسمي حقوقي او قضايي جبرانونه نه دي تضمین شوي. ویل کېږي[۱۰۹] چې دوی له قانون تطبیق کوونکو او عدلي ادارو څخه د خپل شکایت د رسمي قضايي حل د ترلاسه کولو د هڅې پرځای له *برحاله چارواکو* او د هغوي له خپلسرو کړنو ویریږي.

د افغانستان دولت د مسؤولیت لرونکو په توګه چې د ښځو او نجونو په ګډون د ټولو افغان اتباعو حقونو درناوی او ملاتړ وکړي، و یې ساتي او تامین یې کړي، *برحاله* چارواکي د جنسیت پر بنسټ له تاوتریخوالي څخه د ښځو او نجونو په ساتنه کې د "اړینې پاملرنې" د ډاډمنولو مسؤول دي. دا په دې معنا چې *برحاله* چارواکي باید د دغه تاوتریخوالي د مخنیوی لپاره ټول مناسب تدابیر ترسره کړي، او دغه راز د نا دولتي فعالینو له خوا هغه اعمال یا تقصیرونه وڅېړي، تر عدلي تعقیب لاندې ونیسي، سزا یې ورکړي او خسارې جبران برابر کړي چې د ښځو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي لامل شوي.[۱۱۰] په دې کې هغه حقوقي حمایت شامل دی کوم چې د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي په تړاو د مرتکبینو لپاره احتساب ډاډمنوي او د معافیت ابدي شوي کلتور ته د پای ټکی ږدي. دا همدارنګه د زیانمن شویو لپاره د عدالت، حل لارو، د خسارې د جبران، رواني او طبي ملاتړ، او د لا زیات جسمي زیان د مخنیوي لپاره د امن خونو په تړاو د خدمتونو او هغوي ته لا رسي برابرولو په معنا ده.

---

[۱۰۶] ۹۶ شمېره لمنلیک وګورئ.

[۱۰۷] د ملګرو ملتونو د بشري حقونو کمیټه، نړیوال مدني او سیاسي حقونه، ۳۵ شمېره عمومي تبصره، ۹ ماده: (د شخص آزادي او امنیت)، CEDAW/C/GC/35، ۱۶ ډسمبر ۲۰۱۴.

[۱۰۸] د مثال په ډول، وګورئ، د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو په اړه د ملګرو ملتونو کمیټه، د جګړو په مخنیوي، جګړې او تر جګړې په وروسته حالاتو کې د ښځو په اړه *۳۳ شمېره عمومي تبصره (۲۰۱۳)*، CEDAW/C/GC/33 ، ۳ اګست ۲۰۱۵، ۱۶ (ب) پاراګراف.

[۱۰۹] ۸۹ شمېره لمنلیک وګورئ.

[۱۱۰] د ملګرو ملتونو د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو کمېټه، *د ښځو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي په اړه ۳۵ شمېره عمومي تبصره، چې ۱۹ (۲۰۱۷) عمومي تبصرې په اړه تازه معلومات وړاندې کوي*، CEDAW/C/GC/35، ۲۶ جولای ۲۰۱۷.

# شپږم. سپارښتنې

یوناما په کلکه د طالبانو له *برحاله چارواکو* غوښتنه کوي چې د ښځو او نجونو د نه تبعیض او برابرۍ څخه هم په عمل او هم په قانون کې د برخمن کېدو حقونو د حمایت، درناوي، او تحقق په تړاو د بشري حقونو د نړیوال قانون له مخې له خپلو مکلفیتونو سره په سمون کې د جنسیت پر بنسټ له تاوتریخوالي څخه د افغان ښځو او نجونو د ساتنې لپاره اړین ګامونه پورته کړي. د دغه هدف د تحقق په پار، یوناما راتلونکې سپارښتنې کوي:

## د *برحاله چارواکو* لپاره:

برحاله چارواکي باید **د تطبیق وړ حقوقي چوکاټ تایید یا روښانه کړي** کوم چې د افغان ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي د شکایتونو اړوند عدالت تنظیم او اداره کوي.

- دغه ډول د تطبیق وړ چوکاټ باید د بشري حقونو د نړیوال قانون، په ځانګړې ډول د ښځو په وړاندې د تبعیض د ټولو شکلونو د له منځه وړلو کنوانسیون – چې افغانستان یې غړی دولت دی - له مخې د افغانستان له مکلفیتونو سره په تطابق کې وي، کوم چې له غړي دولت څخه د داسې قوانینو د وضع کولو غوښتنه کوي چې د ښځو او نجونو په وړاندې د رواني تاوتریخوالي په ګډون د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي ټول شکلونه منع کوي.
- دغه ډول د تطبیق وړ حقوقي چوکاټ باید ډاډ تر لاسه کړي چې د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي اعمال په سم ډول د جرمونو په څېر پېژندل شوي.
- دغه ډول د تطبیق وړ حقوقي چوکاټ باید همدارنګه د تحقیقاتو، عدلي تعقیب او مؤثرو حل لارو او غرامت ته د لاس رسي مناسب طرز العملونه ولري. د دغه هدف د تحقق په پار، دغه ډول حقوقي چوکاټ باید هغه صلاحیت لرونکې برحاله قانون تطبیق کوونکې او عدلي ادارې او د عدلي سلسلې په دننه کې د هغوی مسؤولیتونه معلوم کړي کومې چې باید د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي شکایتونو ته رسیدګي وکړي.

برحاله چارواکي باید برحاله قانون تطبیق کوونکې او عدلي ادارې **د هغو جرمونو په اړه د تحقیقاتو او عدلي تعقیب ترسره کولو** ته اړې کړي کوم چې د ۲۰۰۹ کال د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون په ۱۷ - ۲۱ مادو کې مشخص شوي، پرته له دې چې د مجنې علیها له خوا د شکایت په درج کولو کې پاتې راتلل یا وروسته د شکایت بیرته اخیستل په پام کې ونیول شي. دغه ډول تحقیقات او عدلي تعقیبونې باید د برحاله چارواکو د بشري حقونو د نړیوالو مکلفیتونو سره په مطابقت کې وي، د نه تبعیض لپاره د ښځو او نجونو د حقونو د درناوي، حمایت او تحقق په ګډون.

- د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي د پېښو راپورونه باید په چټک ډول وڅېړل شي او تر عدلي تعقیب لاندې ونیول شي چې د دولت یا عامو خلکو له خوا یې د برحاله قانون تطبیق کوونکو او عدلي نهادونو پام ورګرځول شوی، پرته له دې چې د اړوند مجنې علیها یا د هغې د کورنۍ له خوا د شکایت درج کولو ته په تمه شي.

برحاله چارواکي باید د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي د شکایتونو په تحقیقاتو او د دغه ډول قضیو په عدلي تعقیب او د هغوي په اړه په پریکړه کولو کې د جنسیت د اړخونو مراعت کوونکي طرز العملونه تطبیق کړي.

- برحاله د قانون تطبیق کوونکي او عدلي تخصصي واحدونه – لکه د برحاله پولیسو د کورنۍ شخړو د حل واحدونه او د ښځو په وړاندې تاوتریخوالي د له منځه وړلو محکمې، یا د هغوي معادل – باید په ټول هیواد کې له روښانه ماموریت او ښځینه او نارینه وړ او روزل شوو کارمندانو سره بیا رامنځ ته شي، څو د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي شکایتونه تنظیم او حل کړي.
- په دغو واحدونو کې ښځینه کارمندانې باید د هغوي د نارینه همکارانو په اندازه په منظم ډول دفترونو ته حاضرې شي څو د ښځو او نجونو لپاره د برحاله چارواکو، د قانون تطبیق کوونکو او عدلي ادارو د خدمتونو موجودیت او لاس رسی زیات او ډاډمن کړي.
- وړ او روزل شوي ښځینه او نارینه کارمندان باید قانون تطبیق کوونکي او عدلي یوازیني پرسونل وي څوک چې د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي د شکایتونو د څېړلو او همدارنګه د دغو قضیو د عدلي تعقیب او د هغوي په اړه د پرېکړې کولو اجازه لري، څو د قربانیانو د بیا قرباني کیدو او پیغور مخه ونیسي.

برحاله چارواکي باید **یو داسې روښانه حقوقي او د پالیسي چوکات برابر کړي چې د منځګړیتوب چارې تنظیموي او د منځګړیتوب په ګډون د شخړو د حل دودیز میکانیزمونه اداره کوي.**

- دغه ډول حقوقي او د پالیسي چوکاټ باید په روښانه ډول دا په ډاګه کړي چې منځګړیتوب د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي د شکایتونو د حل لپاره اجباري نه دی، او نه باید د ښځو له خوا د رسمي عدالت د لاس رسي په وړاندې خنډ جوړ کړي.
- دغه ډول حقوقي او د پالیسي چوکاټ باید په روښانه ډول دا په ډاګه کړي چې برحاله د قانون تطبیق کوونکې او عدلي اداري نه باید هیڅکله د هغو جرمونو په ګډون چې د ۲۰۰۹ کال د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون په ۱۷ - ۲۱ مادو کې مشخص شوي، د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي د شکایتونو په اړه منځګړیتوب وکړي یا یې د منځګړیتوب په پار راجع کړي.

برحاله چارواکي باید له داخلي نادولتي سازمانونو او په افغانستان کې له موجوده نورو تجربه لرونکو ادارو سره په همغږۍ د **ښځو د محافظتي امن خونو جوړولو ته وده ورکړي او تسهیل یې کړي،** او کله چې قربانیان له دغه خدمت څخه ګټه پورته کوي باید دا انتخاب ولري چې د خوندي امن خونې په لټه کې شي څو هغوي د ضرر د بیا پېښېدو او لا زیات تاوتریخوالي څخه لرې کړي.

- د ښځو د ساتنې دغه ډول امن خونې باید پر داسې ښځینه کارمندانو سمبال وي څوک چې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي د زیانمنو شویو لپاره د حمایتي خدمتونو وړاندې کولو لپاره روزل شوې وي.
- د دولت له خوا د تمویل شویو ځانګړو ادارو په نشتون کې، برحاله چارواکي باید په دې برخه کې د ملګرو ملتونو له اړوندو ادارو سره مرسته وکړي.

- د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي قربانیان یا د تاوتریخوالي له خطر سره مخ ښځې نه باید زندان ته ولیږدول شي.

## د نړیوالې ټولنې لپاره:

نړیواله ټولنه باید د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي د شکایتونو/پېښو ته د بشري حقونو له نړیوال قانون سره په سمون کې د رسیدګۍ د اړتیا په ګډون په افغانستان کې د ښځو د حقونو او د جنسیت د مساواتو په اړه له *برحاله چارواکو* سره **دوه اړخیز او/یا ګڼ اړخیز حمایت او مدافعه وساتي**، څو په افغانستان کې د ښځو او نجونو په ضد تبعیض پای ته ورسیږي او داسې عدلي سیستم ته وده ورکړي چې د برابرۍ د اصل پر بنسټ د ټولو افغانانو لپاره د لاس رسي وړ وي.

نړیواله ټولنه باید په افغانستان کې له داخلي نادولتي سازمانونو او نورو تجربه لرونکو ادارو سره **ملاتړ ته دوام** ورکړي، څو د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي د ښځینه قربانیانو لپاره حمایتي/حفاظتي خدمتونه برابر کړي.

## د ملګرو ملتونو د هیوادنۍ ټیم لپاره:

د ملګرو ملتونو هیوادنی ټیم باید خپلو **هڅو همغږي شویو هڅو ته دوام ورکړي کومې چې** د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي او عدالت ته د لاس رسي په ګډون د اړوندو خدمتونو په اړه د افغان ښځو او نجونو **وضعیت څاري او په اړه یې راپور ورکوي**.

## ضمیمه: افغانستان کې د ښځو او نجونو پر وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي په اړه په کابل کې د یوناما دفتر د بشري حقونو د څانګې د راپور مسودې په اړه د ا.ا.ا. د بهرنیو چارو وزارت ځواب

د ا.ا.ا. د بهرنیو چارو وزارت د بشري حقونو او د ښځو د نړیوالو چارو ریاست، په افغانستان کې د ښځو او نجونو پر وړاندې د جنسیتي تاوتریخوالي په اړه په کابل کې د یوناما د دفتر د راپور مسوده د بین الوزارتی د همغږۍ او تخنیکي کمیټې د ځلورو غړو بنسټونو او سترې محکمې سره د حقیقت موندلو او ځواب ویلو په پار شریکه کړه، چې د حقایقو پر بنسټ د دوی د نظریاتو د ترلاسه کولو او د دې ریاست له خوا تر ارزونې او توحید وروسته، په کابل کې د یوناما دفتر د بشر حقونو څانګې د پورته یاد شوي راپور مسودې ته په لاندې ډول ځواب وړاندې کیږي:

### د ا.ا.ا. د کورنیو چارو وزارت نظر او کړنې:

- د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي لپاره داسې اداري لکه، په مرکز کې د بشر د حقونو ریاست، د ولایتونو امنیه قوماندانۍ ګانې، امنیتي حوزې او لومړی درجه ولسوالیو کې د بشر د حقونو آمریتونه او د جنايي تحقیقاتو ریاست په چوکاټ کې د کورنیو ستونزو د حل مدیریت شتون لري او د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي قضیو ته رسیدګي کوي.
- ښځې د محمدي ځلانده شریعت سره سم له ځانګړي مقام او حقونو څخه برخمنې دي او د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي ټولې قضیې د اسلامي شریعت احکامو سره سم حل کیږي.
- شریعت په افغانستان کې لومړنی میکانیزم دی چې ټولو قضیو ته د هغه سره سم رسیدګي کیږي.
- په هغه صورت کې چې پخواني طرزالعملونه له شریعت سره په ټکر کې نه وي، هغه هم د تطبیق وړ دي.
- د ښځو په ګډون د هیوادوالو لیکلي او تیلیفوني شکایتونه د کورنیو چارو وزارت د ادارو له لوري لکه د بشر د حقونو ریاست، د ستونزو د حل مدیریت او د پولیسو اطلاعاتي مرکز ۱۱۹ له خوا ثبت کیږي.
- هغه قضیې چې د ستونزو د حل مدیریتونو او پولیسو د حقونو مدیریتونو له لورې ورته رسیدګي شوی وي، محاکمو ته لیږل کیږي.
- د اړوندو ادارو له لوري شکایتونه هم په لیکلي ډول او هم تیلیفون له لارې ترلاسه کیږي.
- د فتح له پیل څخه تر اوسه پورې (۱۶۹) د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي لیکلي شکایتونه د بشر د حقونو ریاست سره ثبت شوي چې (۱۱۶) ته یې رسیدګي شوې او (۵۳) یې تر کار لاندې دي.
- همدارنګه د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي ۹۰ قضیې د جنايي جرمونو سره د مبارزې عمومي ریاست اړوند د کورنیو ستونزو د حل مدیریت له لوري اړوندو مراجعو ته لیږل شوي او ۵۵ قضیې د دې اداري تر کار لاندې دي.
- د هیواد په کچه لومړنی مرجع پولیس دي، لکه د بشر د حقونو ریاست، په ولایتونو کې دستونزو د حل دویم واحدونه او خپلواک جزو او تامونه، چې د تاوتریخوالي څخه متاثره شویو ښځو شکایتونو ته رسیدګي کوي.

- د پولیسو اداري په مرکز او ولایتونو کې خلکو ته د هر ډول خدماتو د وړاندې کولو لپاره چمتو دي او ښځې هم کولای شي چې پرته له ویرې په آزادانه ډول خپل شکایت درج کړي او اړونده اداري مکلفې دي چې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالی قضیو ته رسیدګي وکړي.
- د افغانستان اسلامي امارت د خلکو د ځان او مال ساتنې ته ژمن دی او د ښځو په ګډون د هیڅ افغان وګړي ژوند د ګواښ سره نه دی مخ ، تر څو دې ته اړتیا پیدا شي چې یوه ښځه د کورنۍ د غړو د ویرې له وجې امن خونو ته پناه یوسي.
- د جنايي تحقیقاتو ریاست اړوند ستونزو د حل عمومي مدیریت په ګډون، د ښځو د چارو عمومي مدیریت، د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي قضیو ته د رسیدنې آمریت او بشر حقونو ریاست اړوند د شکایتونو د ثبت آمریت کړنې ترسره کوي، همدارنګه د پولیسو د حقونو عمومي مدیریتونه چې د بشر حقونو آمریتونه یې تر اثر لاندې دي، په ولایتونو کې د ستونزو د حل آمریتونو سره په همغږۍ په وخت سره شکایتونو ته رسیدګي کوي.
- قضیو ته رسیدنه د شرعي احکامو پر بنسټ ده او هیڅ ډول بې عدالتي د ښځو په وړاندې نه ترسره کیږي. په هغه صورت کې چې قضیه شدیده وي په هیڅ صورت منځګړیتوب نه ترسره کیږي او دوسیه محکمې ته استول کیږي.

## د افغانستان اسلامي امارت د عدلیې وزارت:

د تقنیني اسنادو اړوند د امیرالمؤمنین حفظه الله ۹ شمیره فرمان، نیټه ۱۴۴۴، په رسمي جریده کې خپور شوی ۱۴۳۲، د پراونو څخه د تقنیني اسنادو د تیریدو د څرنګوالي اړوند، وزارتونه او امارتي اداري مکلفې کړي تر څو د علماؤو، متخصصینو او مسلکي کارکوونکو باندې خپل د تقنیني اسنادو لومړنی مسودې ترتیب او په هغه مواردو کې چې شرعي بڼه لري، د حنفي فقهي کتابونو څخه فقهي ماخذ ولټوي او تخریج یې کړي او وروسته یې د شرعي څیړنې، تدقیق او ارزونې لپاره د عدلیې وزارت ته ولیږي. د عدلیې وزارت د نوموړي سند مسوده د تدقیق او ارزونې وروسته د بیاکتنې لپاره په دقیق ډول پلټي او ټول لازم اصلاحات د تقنیني اسنادو د بیاکتنې خپلواک کمیسیون ته استوي. نوموړی کمیسیون د تقنیني سندونو مسوده د توشیح لپاره د عالیقدر امیرالمؤمنین حضور ته وړاندې کوي. تر څو د یوه تقنیني سند په توګه اجرا ته وړاندې شي.

د توقیف لاندې اشخاصو سره د چلند او بشري حقونو د رعایت په اړه، د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله یو شمیر فرمانونه ۱۴۴۴ کال په رسمي جریده (شمیره ۱۴۳۲) کې خپاره شوي چې په لاندې ډول دي:

- د ښځو د حقونو اړوند د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله (۸۳/ج۱) شمیره فرمان، نیټه ۱۴۴۳/۴/۲۷.
- د ټولو مجاهدینو په اړه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله ۲۸ شمیره فرمان، نیټه ۱۴۴۳/۸/۱۱.
- د اساسي قانون په اړه مخکې د څو مکتوبونو له لارې ځواب وړاندې شوی دی.
- د ښځو او نجونو اړوند هغه حقوقي موضوعات چې په دې مسوده کې یې یادونه شوې ده.

د یادونې وړ ده چې د افغانستان اسلامي امارت د مدافع وکیلانو طرزالعمل تصویب او نافذ کړی چې پر بنسټ یې اشخاص د ښځو او نجونو په ګډون او د هغوي قانوني استازې د اړوندو قضیو پر مخ بیولو لپاره کولای شي مدافع وکیلانو ته لاسرسی ولري. د دې سربیره، د حقوقي مساعدتونو ریاست په وړیا ډول مدافع وکیل ګماري.

د توقیف لاندې اشخاصو ته، په ځانګړي ډول ښځو او نجونو ته د حقوقي خدماتو د وړاندې کولو په اړه، د عدلیې وزارت د اسلامي شریعت او اسلامي امارت د پالیسۍ سره سم کړنې ترسره کړي او د نورو اړوندو ادارو سره په همغږۍ د وړیا مدافع وکیلانو په ګمارلو سره په خپله برخه کې حقوقي خدمات ترسره کوي.

## د افغانستان اسلامي امارت د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوي ریاست نظرونه

د یوناما د راپور مسوده د دغې ادارې د بشري حقونو د ځانګړې نظریات ښیي، ډیره برخه یې د اشخاصو او افرادو سره په مصاحبو او نظریاتو باندې ولاړه ده او د تیرې ادارې په قوانینو استناد شوی دی.

- د ښځو او نجونو حقوق د اسلامي شریعت په چوکاټ کې معلوم دي او مونږ دغو حقوقو ته ژمن پاتې کیږو. دا چې تیرې ادارې د نړیوالو کنوانسیونونو له مخې کومې ژمنې کړي، د دغه کار لپاره اړتیا ده ترڅو اسلامي امارت په لوړه کچه پریکړه وکړي. همدارنګه دغه ریاست د ښځو او نجونو  د شکایتونو د څیړنې په موخه په ټولو ولایتونو کې د نورو ادارو په نه مداخلې سره، د یوې واحدې شرعي مرجع د رامنځته کیدو سره موافقه لري.  د نوموړې ریاست له نظره، د علماؤو شورا په هر ولایت کې موجوده ده او عملاً کار کوي. په لومړي پړاو کې دې دغه شکایتونه د علماؤو شورا له لارې حل شي. که چیرې موضوع پیچلې او په شورا کې د حل وړ نه وه، ښه دا ده چې د شرعي فیصلې لپاره محکمو ته ولیږل شي.

## د امربالمعروف، نهي عن المنکر او شکایتو اوریدلو وزارت نظرونه

د دغه وزارت له لوري ترلاسه شوي شکایتونو د ډولونو په اړه چې رسیدګي ورته شوې؛ په میراث کې د اشخاصو تصرف، د واده د حق یا د میړه د خوښولو د حق څخه منع،  په زور/اجباري واده، وهل او ټکول [شکایتونه] ترلاسه شوي او د لازمو لارښونو تر څنګ زیانمن شوي اړوندو ادارو ته وریپژندل شوي تر څو حقه حقوق یې ترلاسه شي، او دا حقیقت ښیي چې د ښځو او نجونو په وړاندې تاوتریخوالی په افغانستان کې منع دی.

- همدارنګه دغه وزارت د اړوندو مراجعو څخه د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي قضیې د لوریو تر منځ د  منځګړیتوب لپاره ترلاسه کړي او دا یې خپله دنده بللې چې هغه شکایت ته رسیدګي وکړي. خو د منځګړیتوب موضوع کې د لوریو رضایت شرط دی او د لوریو د نه رضایت په صورت کې محکمو ته لیږل کیږي. د نوموړي وزارت اړوند ریاستونه د هر شکایت لپاره خپلې ځانګړې مراجع په پام کې لري او  د شکایت کوونکي موضوع اړوندې مرجع ته لیږي او تر هغې یې تعقیبوي تر څو چې موضوع په اړوندې مرجع کې حل شي.
- د یوناما په راپور کې ادعا شوې چې " د ښځو او نجونو د ستونزو او شخړو ته د رسیدګي او حل لپاره یو چوکاټ نشته"، دغه ادعا ردوو. ځکه چې زمونږ د قانون اساس د الله تبارک و تعالی مقدس کتاب، د حضرت محمد "ص" او ائمه العظام ارشادات او اقوال دي چې له پیریو راهیسې د مسلمانانو ټول موضوعات او مسائل په هغه باندې حل کیږي، په دغه الهي قانون کې د ښځو د حقونو د نشتون نسبت یو ډول ناپوهي او بې خبري ده. زمونږ دین پوره او زمونږ قانون هم په هغه برابر دی، د ښځو او نارینه وو حقونو ته رسیدګي کیږي او په هر اړخیز ډول په دې نظام کې د نارینه وو حقونو ته په ځانګړي ډول د ښځو حقونو ته پاملرنه شوې او له هغوی څخه دفاع کیږي.